
علامہ اقبال

شریف المجاہد



بہ تعاون پاکستان ھائی کمیشن نئی دھلی

علامہ اقبال

ڈرونڈ مطالعہ — ۶

علامه اقبال

شریف المجاهد

ترجمه کوونکے

پُردل خټک

قائداعظم اکادمی

ناشر	قائد اعظم اکادمی
	۲۹۷ - ایم اے جناح روډ کراچی ۵
ټول حقوق	دَ مصنف په حق کښے محفوظ دی
طبع اول	اګست ۱۹۸۶
کتابت	لطف الله
دَ سر ورقه	رشید صدیقی
ترجمه کوونکے	پُردل خټک
طبع کوونکے	احمد برادرز پرنٹرز
	کمرشیل ایریا ناظم آباد ۲ کراچی ۱۸
قیمت	۷۰ روپیه

په دے کتاب کښے چه دَ کومو خیالاتو، نظریاتو، توضیحاتو اوَ تشریحاتو نه کار اخستے شوے دے، هغه خالص دَ مصنف دَ فکر دَ انداز اوَ تحقیق نتیجه ده۔ قائد اعظم اکادمی یا بل څهٔ اداره دَ دے ذمه واره نهٔ ده۔

فهرست

بسم اللہ الرحمن الرحیم

مقدمه

علامه اقبال ؒ زمونږ د قومي او ملي ملولو بو ځلېدونکې علامت دے۔ د دوئ شاعرۍ او فلسفه دواړه يو فکري او عملي پېغام لري، يو داسې پېغام چه کوم د قرآن او سنت په رڼا کښې د تعميري او مثبت قدرونو نه سازشوے دے علامه اقبال ؒ د خپلې شاعرۍ په ذريعه زمونږ اجتماعي شعور رابيدار کړو او يو داسې ذهني انقلاب ئے راوستو چه د مصيبتونو او مسئلو په تېزوالي کښې ئے د هندوستان د مسلمانانو د پاره د مشال کار اوکړو، نه يواځې دا چه د هند مسلمانان بلکه ټوله اسلامي دنيا دے پېغام د خپل ځان د بيا پېژندګلو د پاره د عمل ميدان ته تياره او بيدار ه کړه۔ د غه شان د علامه اقبال ؒ حيثيت د اسلامي دُنيا د پاره د يو بنسټګره کوونکي بنيادم دے۔

علامه اقبال ؒ به هر وخت د يوے نوي دُنيا او نوي ژوند لټون کولو۔ د دے نوي دُنيا او نوي ژوند بنا د نوي نسل په لاس ممکنه کېدے شي۔ علامه اقبال ؒ په خپله په خپلې شاعرۍ کښې ځائے په ځائے نوي نسل ته خطاب کړے دے او ورته ئے د فکر او عمل بلنه ورکړے ده، ځکه خو د دے خبرے ضرورت دے چه په هره زمانه او هر دور کښې نوے کول د اقبال ؒ د پېغام نه خبر کړے شي چه په هره زمانه او هر دور کښې نوے کول د ملي تقاضو په رڼا کښې د اقبال ؒ د پېغام نه د لاربنودنے کار اخلي۔

په پاکستان کښې د علامه اقبال ؒ د ژوند او خدمتونو او د هغوئ د شاعرۍ په حواله خاص ژور او د قدر ور کار شوے دے۔ اوس هم په دے لړ کښې د تحقيق او تصنيف سلسله جاري ده۔ خو بيا هم د يوے مودے نه د يو داسې کتاب ضرورت محسوسولے شو، کوم چه د سکول او کالج په سطح د نوي کول ذهنونو نه د دے حقيقت نه روښانه کړي چه هغه کوم خدمتونه وو چه د هغې په وجه علامه اقبال ؒ "شاعر مشرق" "شاعر اسلام" او "د مفکر پاکستان" په نوم ياد کړے شو۔

پروفیسر شریف المجاهد څوک چه دَ یو مؤرخ اَوُ محقق په حیثیت دَهیڅ قسم پیژندګلو موتازه نهٔ دے ، هغهٔ دَنن نه تقریباً څلیرشت کاله اګاهو دَدے ضرورت له کبله په انګریزئ کښے یو کتاب لیکلے وو ، کوم چه دَ اکسفورډ یونیورسټئ پریس په لندن کښے چاپ کړے وو - اوس دُوئ هم هغه شان کتاب په اردو ژبه کښے جوړ کړو - ما دَدے کتاب مسوده اوکتله اَوُ په دے خوشحاله شوم چه پروفیسر شریف المجاهد دَنوی کول ذهنی سطح په خیال کښے ساتلے ده اَوُ په دے کتاب کښے ئے دَ اِقبال ؒ ژوند اَوُ خدمتونه ډیر په آسانه ساده اَوُ دَ پوهیدلو جوګه ژبه کښے پیش کړی دی - دوئ دَ اقبال ؒ دَشخصیت دَ ځنے اړخونو خصوصًا دَ شاعرئ په لړ کښے تشریحی اَوُ تجزیاتی انداز هم خپل کړے دے ، ولے بیا هَم دَبیان انداز ئے دُومره ښکلے دے اَوُ دَ ذرې تل ته پریوتونکے دے چه په پوهیدلو کښے ئے هیڅ قسم ته قباحت نهٔ پیدا کیږی -

زهٔ دا امید لرم چه دا کتاب به نهٔ یواځے دا چه دَ نوی نسل دَپاره دَ اقبال ؒ په پیژندګلو کښے مَددی ثابت شی بلکه دَ اِقبالیاتو په شعبه کښے به یوه اهمه اضافه اوګڼړے شی -

زهٔ پروفیسر شریف المجاهد اَوُ دَ قائد اعظم اکادمئ ته دَدے کتاب په تصنیف اَوُ اشاعت مبارکی وړاندے کوم -

الله تعالیٰ دِ مونږ ټولو ته دَ مطالعے اَوُ عمل توفیق راکړی - آمین

اِسلام اباد
۲۵ ، جولائی ۱۹۸۵ء
۶ ، ذیقعد ۱۴۰۵ھ

(ریټائرډ) لفټننټ جنرل جمال سید میاں
هلال امتیاز ، ستارهٔ بسالت
وفاقی وزیر دَثقافت ، لوبے اَوُ سیل ګرځئ
چیرمین بورډ آف ګورنرز قائداعظم اکادمی

دَ سریزے

علامه اقبال یو دېر لوئے شاعر اَو فلسفی وو۔ هغه په ژوند استه "شاعرِ مشرق" اَو "مفکرِ اسلام" مشهور شوے وو۔ هغوی دَخپلے اثرناکے شاعرئ په برکت مسلمانان بیدار کړل۔ په هغوی کښے دَژوند دَکړاؤ اَو مشکلاتو سره دَ اَنګټے اچولو حوصله پیدا کړه اَو دَ هغوی سوچ اَو فکر ته ئے داسے سمون ورکړو چه دَهغے په برکت دُوئ دَ ځلند صباؤن پلو نزدے شول۔ دَیو پوهه مسلمان په حیثیت دَعلامه اقبال دا ایمان وو، چه مسلمانان داخپل بد حال هله سمولے شی، کله چه دُوئ دَ اِسلام په صحیح تعلیم عمل اوکړی۔ ځکه نو هغوی دَ خدائے تعالیٰ حُکمُونه اَو دَ مصطفےٰ صلی اللہ علیہ وسلم دَعشق دَوح دَخپل فکر بنیاد جوړ کړو او دَ هندوستان دَمسلمانانو زړونه اَو ذهنونه ئے دَیو عظیم فکری انقلاب سره آشنا کړل۔ دَاقبال هُم دغه خدمتونه دی چه په تاریخ کښے به ئے تل دَ سرو زرو په تکو ذکر کیږی۔

دَدے کتاب کُوټی مقصد دَ ثانوی سکولونو اَو دَ کالج دَ طالب علمانو دَعلامه اقبال دَ ژوند نه خبرول دی، دَدے مقصد لهٔ کیله کوشش کړے شوے دے چه ژبه دِ ساده اَو اسانه اَو په انداز بیان کښے دِ تر ممکنه حده پورے دَتشریح او وضاحت نه کار واخستے شی چه دَ مضمون په اصل په آسانه پوهه کړے شی۔ داکوشش هُم شوے دے چه دَ مطالعے په دوران کښے دَ طالب علم په معلوماتو کښے هم زیاتے اوکړے شی۔ ځکه نو چه چرته دَچا مشرنوم راغلے دے نو ورسره دَ هغهٔ دَ پیدا ښت اَو وفات کالُونه هم لیکلی شوی دی۔ دَ اقبال دَ تعلیماتو، تصوراتو اَو خیالاتو دَ پوهے دَپاره دَهغوئ دَ کلام حواله هم ضروری دَه دے دپاره ځائے په ځائے دَ هغوئ شعرونه ورکړی شوی دی۔ چه ترِ دَ هغوئ خیالات څرګندیږی اَو دَهغوئ پیغام پُوره پُوره څرګند وی۔ چرته چه دَ فارسئ څهٔ شعر راغلے دے نو ورسره دَ اُردو ترجمه ورکړے شوے دَه۔ دَ علامه اقبال دېره مشهوره

دعا د اقبال د لاس لیک شوی عکس سره چاپ کیږي. دے دپاره چه نوے کول د اقبال" د خط نه خبر شي - د اقبال" د ژوند او کارونو په بیان کښے موږ د دے خبرے پوره پوره کوشش کړے دے چه د هر قسمه مبالغ نه ځان اوساتلے شي او داسے حقیقتونه برسیره کړے شي چه تخښے نسبتاً نے سے په تاریخ کښے موجود نه دی - د دے نه علاوه د کتاب په اوو بابونو تقسیم شوے دے چه هر یو باب په ځپل ځائے مکمل دے.

تقریباً شلیرشت کاله آګاهو ما په انګریزئ کښے یو کتاب کوښے د علامه اقبال په حقله د طالب علمانو دپاره لیکلے وو، کوم چه په لندن کښے د اکسفورډ یونیورسټئ پریس چاپ کړے وو. د اکتاب کوښے اوس په لاس نه راځي. چونکه د آزادئ د ورځے په لړ کښے د نشر و اشاعت دپاره جوړے شوے کمیټئ دا مشوره او فیصله وه چه زه هم دغه شان یو کتاب په اردو کښے په علامه اقبال اولیکم. زه په دے لړ کښے په خصوصي توګه د ډاکټر نبي بخش بلوچ، پروفیسر نذیر احمد او ښاغلي ایم بي خالد د زړه د اخلاصه مننه کوم چه مخوئ نه یواځے دا مشوره ورکړه، ورسره ئے په کال ۱۹۸۲ء کښے د یوم استقلال د جشن په موقعه د چاپ کیدونکو کتابونو په فهرست کښے ئے هم د اکتاب کوښے شامل کړو.

د دے نه علاوه زه د ثقافت، لویو او سیل کیرئ وفاقي وزیر لفټننټ جنرل (ریټائرډ) جمال سید میاں د زړه د اخلاصه مننه کوم چه مخوئ سره د ښځے ډیرے نااوزګارتیا په دے کتاب کوښے یوه فکر راپاروونکے مقدمه هم اولیکله چه د هغې په برکت د دے کتاب اهمیت نور سوا شو.

د دے کتاب په مسوده نظرثاني ښاغلي احمد همداني او خواجه رضي حیدر کړے ده، چه د هغے دپاره د دے دواړو مننه کوم!

قائد اعظم اکادمي
۱۴ر اګست ۱۹۸۵ء

شریف المجاهد

یونوے شاعر

دنولسمې صدئ کال وو - په لاهور کښې دانجمن حمایت الاسلام کالیزه جلسه وه - په هغه موقعه دَدلچسپئ مرکز هغه نوے جوړه کړے شوے دُونګاچې وه چه پرِبلبونه ځلیدل - داهم یو عجیبه اتفاق دے چه هغه شپه دَ څوارلسمې سپوږمئ پُوره پُوره په آسمان کښې ځلیده - دَجلسې دَشروع کیدونه ډیر وړاندے خلق په جُوپو جُوپو دَجلسې ځائے ته راتلل - په دے خلقو کښې امیران هم وُو، غریبان هم، تعلیم یافته هم وُو او بے تعلیمه هم، په دے کښې دَکوټ پتلُون اغُوستونکی خلق هم وُو او داسے خلق هم چا چه شیروانئ اَوُ پرتوګونه اغوستی وُو دَداسے خلقو شمار هم ډیر زیات وو چه خالص پنجابی جامے ئے آچولے وے - ډیر زر دَجلسې په ځائے کښې په زرګونو خلق راغونډ شول - داخلق دلته دَدے دپاره راجمع شوی وُو چه هغوئ په هندوستان کښې دَمسلمانانو دَمستقبل سره دلچسپي لرله -

آخر دَجلسې کاروائ دَهندوستان دَمسلمانانو دَروایت مطابق دَ قرآن پاک دَتلاوت نه شروع شوه - بیا حضور صلی الله علیه وسلم ته دَنعت شریف پیش زدیته وړاندے کړے شوه - او دَدستور مطابق دَجلسې صدر مولانا نذیر احمد صاحب دَانجمن کاروائ وړاندے کړه او په دے خبره ئے خاص زور واچولو چه انجمن حمایت الاسلام ځنګه اَوُ په کوم توګی

تعلیمی خدمت کوی - موجوده خلقو دَجلسې دَصدر تقریر ډیر په غورسره
واوریدلو او په چکچکو سره ئې دَ انجمن کار وائي ته پیرزوینې وړاندې
کړې - دَدې نه پس ډیرو کسانو تقریرونه اوکړل اونظمونه ئې واورول
دَدې ټولې کاروائي مقصد دا وو چه خلق دَ انجمن دَ مقصد دَپوره کولو
په لړکښې دلچسپي واخلي او په ارت مټ عطیات ورکړي چه دَ انجمن په
کار کښې لاس مدد اوکړي -

دَدې تقریب دَ کاروائي به یو څو کښته شوې وې چه دَجلسې صدر
دَیو نوي نوم اعلان اوکړو - خو دا نوم دَ وړاندې تو تقریر کوونکو په چکچکو
کښې ورک شان شو - خو بیا هم خلقو څه زیات انتظار اونه کړو - څه ګوری
چه یو زلمې، شین وانې او پرتوګ اغوستی، ترکۍ ټوپۍ په سر دُونکاچې ته
راغې - دَدې ځوان رنګ صفا بلکه ډیر صفا وو - په قد مینځومانه، اوږدې
پلنې، تور بریتونه، تورې سوړې بخنې سترګې او دَ ټولو نه ځرګنده پلنه او
ځلنده تندې - که یوخوا دَ زلمي دَ څیرې نه سنجیدګي ښکاره کیدله
نو بل خوا ئې سترګې دَ ژور تجسس او دَ غور و فکر غمازې وې -

دا زلمې چه دُونکاچې ته راغې نو دَخپل نظم سرخط ئې "دَیتیم ژړا"
بیان کړو او بیا ئې په خپل خوږ او جادو کوونکي آواز کښې خپل نظم آورول
شروع کړو - دَ شپې په خاموشۍ کښې دَدې زلمي آواز په اوریدونکو
خلقو رو رو خپل اثر شروع کړو او دَ هغوی زړونه دَدَ په یو یو شعر
ګرمیدل - ولې چه هر کله شاعر په خپل نظم کښې دیتیم دَرد ناکه قیصه
بیان کړه، نو اوریدونکو دَیتیم په ژړا کښې دَخپلو زړونو درزا محسوسه
کړه - ځکه چه دَ هندوستان مسلمانانو خپل ځانونه دَنظم دَیتیم بچی په شان
بې آسرې محسوسول - ځکه خو دَدې زلمي په نظم دَیتیم ژړا په اوریدو
دَهغوی سترګې دَ اوښکو نه ډکې شوې او ځکه چه نظم ختم شو نو
اوریدونکو ډیر په جوش کښې لاسونه اوپرقول اوزلمي شاعرته ئې دَ

عقیدت پیرزوینے وړاندے کړے - ولے دَ خاص ذکر وړ خبره دا وه چه دا زلمے دَ شروع نه تر آخره پورے سنجیده وو اَو څنګه چه په خاموشئ سره دَ خپل ځائے نه راغلے وو - دغه شان په خاموشئ دَ دُونکاچے نه خپل دَ ناستے ځائے ته لاړ - دے نظم دَ اَوریدونکو زړونه دومره ګرم کړل چه دَ تقریب په ختم کیدو دَ نظم چاپ شوے نسخے دَ څلور روپئ یوے کاپئ په حساب خلقو واخستے او دغه شان دَ انجمن په بنګه کښے درے سوه روپئ غونډے شوے - دَ جلسے صدر مولانا نذیر احمد څوک چه په خپله هم شاعر وو، په خپلو روستنو خبرو کښے او وے چه "ما دَ انیس او دبیر څو څو مرثیے اوریدلے دی، ولے دَ یتیم ژړا په شان وینه کوموونکے نظم مے دَدے نه وړاندے نهٔ دے اوریدلے"۔

جلسه ختمه شوه نو دَ انجمن خلق زلمی شاعر ته وړو وړاندے شول غیږے ئے ورسره چاپیر کړے - اَوهر چا دَ پیرزوینے په تو که داووے چه "نن یو نوے شاعر پیدا شوے دے" اَوُ دا زلمے شاعر وو شیخ محمد اقبال څوک چه نن پرون دټولو نه لوے اسلامی شاعر منلے کیږی -

زلمے اقبال

شیخ محمد اقبال" په ۹ نومبر ۱۸۷۷ء په سیالکوټ کښے پیدا شهٔ کوم چه دَ کشمیر اَو پنجاب په پوله پروت دے - دَدهٔ دَ خاندان تعلق دَ کشمیر سره وو چه دَ سپرو څانګے دَ بامبړانو نه وو - په اوولسمه صدئ کښے دَ اقبال نیکو نو اسلام قبول کړے ؤو - سل کاله پس هغوئ دَ یو نوی مقام په تلاش کښے سهیل خوا ته هجرت اوکړو - او دَ پنجاب په بنیرازه اَو ښه مزکه ئے مستقله استوګنه شروع کړه - دا تبدیلی دَ اقبال" دَ خاندان دَ پاره ډیره سُود مته شوه - دَ اقبال دَ پیدائش

په وخت د هغه پلار د توپیو تجارت کولو کوم چه د درمیانے درجه فائده من کاروبار شمارلے کیدو.

د اقبال د پلار نوم شیخ نور محمد (۱۸۳۷ - ۱۹۳۰ء) وو. هغه د خدائے نه ویریدونکے او فقیر شان بنیادم وو. د صوفیانو په مجلس کښے ناسته پاسته ئے د ځان دپاره یو سعادت شمارلو. د صوفیانو صحبت په هغه کښے د معرفت ذوق او د حق شناسئ داسے جوهر پیدا کړو چه خلقو به هغه ته بے تعلیمه فلسفی وے او ورته به ئے ډیر د عزت په سترګه کتل. د اقبال مور بی بی امام بی بی قرآن شریف لوستے وو. هغه ډیره زیاته پرهیزګاره او ښه مومن وه. دغه شان په دے دنیا کښے به هیڅ باک نه وی چه اقبال چه په کومه کورنئ کښے پیدا شوے وو، د هغے فضا هم مذهبی او ماحول پوره اسلامی وو.

د اقبال پلار شیخ نور محمد د مذهب سره ډیر ژور تعلق لرلو. د خاندان د روایت مطابق هغوی د ده د پیدائښت نه وړاندے خوب لیدلے وو. چه د هغه خوب تعبیر دوئ داسے کړے وو، چه ورکړه به یو هلک زیږیږی، څوک چه به د اسلام خدمت کوی او ډیر نوم به پیدا کوی. هغوی په خوب کښے لیدلی وو چه په یو لوئے پراخ میدان کښے ډیر خلق راغونډ دی. دے هم په کښے موجود دے. یو ډیر ښکلے مارغه د خلقو په سرونو ګرځی. ټول خلق د هغه د نیولو کوشش کوی ولے هیڅوک په دے کار کښے کامیابیږی نه، آخر هغه مارغه راښکته شو او د شیخ نور محمد په غیږ کښے کښیناست. شیخ نور محمد چه د خپل خوب کوم تعبیر کړے وو هغه رښتیا ثابت شو. ځکه چه یو څو ورځے پس اقبال پیدا شو، او هغه په رښتیا د خپل قوم او اسلام خدمت اوکړو او ډیر نوم ئے پیدا کړو او عزت ئے بیا مونده لو.

سره د دے چه د اقبال د پیدائښت نه ډیرے پخوا په خوب کښے ورکړے شوے وو، ولے د هغوئ ماشوم والے د یو اوسط درجے د یو خاندان ماشومانو شان

نهٔ وو شوے، ولے دا یوه خبره تولوته ښکاره شوے وه چه اقبالؔ یو پوهه، هوښیار، ناقلاره او غیر معمولی صلاحیت لرونکے وو۔ دَ هغه وخت دَ عام روایت مطابق دَ اقبالؔ تعلیم دَ مکتب نه شروع شو۔ ولے اقبالؔ خوش قسمته وو چه ورته دَ مولوی سیّد میر حسن (۱۸۴۴-۱۹۲۹ء) په شان اُستاذ په لاس ورغے۔ ځوک چه نهٔ یواځے په درس ورکولو کښے ډیر پوهه وو۔ بلکه په فارسئ اؤ عربئ کښے لوئے عالم وو۔ مولوی سیّد میر حسن دَ اقبالؔ دَ پلار په ملګرو کښے حسابیدو۔ هغهٔ ډیر زر دَ اقبالؔ دَ قابلیت اندازه اُولګوله اؤ دَ یو استاذ په توګه ئے خپل خدمت پیش کړو۔ دَ مولوی سیّد میر حسن دَ سوری لاندے اقبالؔ نهٔ یواځے داچه دَ فارسئ اؤ عربئ په زده کړه کښے ئے ډیره دلچسپی واخستله بلکه زر ئے داثرے ښے زده کړے۔ هغوئ دَ اُردو اؤ فارسئ په کلاسیکی شاعرئ اؤ فنی باریکو ځان دَ مولوی میر حسن نه پوهه کړو۔ غرض داچه اقبالؔ چه کُوم څهٔ دَ مولوی میر حسن نه زده کړل، نو وړاندے چه هغوئ دَ شاعرئ پلو مخه کړه نو دا ورته یو مضبوط بنیاد ثابت شو۔ مولوی میر حسن دَ شاعرئ په فن ښهٔ پوهیدلو اؤ ورسره ورسره ئے دَ مذهب سره هم ډور تړون وُو ځکه خو دَ هغهٔ په صحبت کښے داقبالؔ مذهبی جذبه اوځلیدله اُو په هغهٔ کښے دَ مذهب ژوره اؤ رښتینے مینه پیدا شوه۔ دَ مولوی میر حسن په وینا اقبالؔ په سیالکوټ کښے په اسکاچ مشن سکول کښے داخل شو۔ ډیر زر هغه په دے سکول کښے خپلو استاذانو ډیر خوښ کړو۔ ځکه چه که یو خوا هغهٔ په خپل سبق کښے ډیره زیاته دلچسپی لرله، نو بل خوا دَ هغهٔ عادتونه ډیر ښکلی اؤ مهذب وُو۔ اقبالؔ په ۱۸۹۲ء کښے لسم جماعت پاس کړو اؤ په مشن کالج کښے داخل شو۔ هُم دغه کال دَ اقبالؔ واده اوکړے شو دَ مشن کالج دَ ورځو نه اقبالؔ په سنجیده ګئ سره شاعری شروع کړه۔ په اصل کښے دَ طبیعت په اعتبار سره هغه پیدائشی شاعر وو۔ دَ مکتب په ورځو کښے به هم دوئ امروزه واقعات په نظم کښے بیانول اؤ خپلوانو

اَوْ دوستانو ته به ئے اَوْرول - په کالج کښے دَ تعليم په دوران کښے هغهٔ دَ یو شاعر په حيث په مشاعرو کښے ګډون شروع کړو - اقبال" په اول سر کښے خپل کلام مرزا ارشد ګورګانوی (۱۸۵۰ - ۱۹۰۶ء) ته ښوولو- دوستو ئے خپل څو نظمونه او غزلے دَ اردو ډیرے منلی شوی اَوْ دَ خپل طرز شاعر نواب مرزا خان داغ دهلوی (۱۸۳۱ - ۱۹۰۵ء) ته دَ اصلاح دَ پاره اُولیږل. سره دَ دے چه دَ هغهٔ اولنی نظمونه ډیر نیات فکر راپرُونکی اَوْ دَ نوی خیال لرُونکی نهٔ وُو - دَ لے دَ دوئ دَ شعر دَ ویلو دَ توان په سبب دَ مرزا داغ دهلوی خیال وو چه په دهٔ کښے دَ یو اُوچت شاعر جوړیدلو ټول صفتونه موجود دی - ځکه خو دَ یو څو نظمو نو اَوْ غزلو دَ اصلاح کولو نه پس داغ دهلوی اقبال" ته اولیکل چه تا ته دَ نورے اصلاح ضرورت نشته - دلته به دَ دے خبرے ذکر کول بے ځایه نهٔ وی چه داغ دهلوی چا چه دَ اول سر نه دَ اقبال" دَ صلاحیتونو انداز ه لګولے وه، څهٔ لږ ه مُوده پس هغوئ په خپلو سترګو هغه دوړ هم اولیدلو چه دَ اقبال" مشهوري په ټول ملک کښے خوره شوے وه - په هغه وخت کښے به داغ دهلوی ډیر په ویاړ سره دا خبره کوله چه په یو وخت کښے هغوئ دَ اقبال" دَ شعرونو اصلاح کړے وه - ترڅو چه دَ اقبال" تعلق دے، هغهٔ به تل دَ داغ دهلوی په شاګردئ فخر کولو - ځکه خو په ۱۹۰۵ء کښے دَ داغ دهلوی په مرینه هغوئ یوه ډیره دردناکه مرثیه اولیکله چه په کښے ئے دَ اردو غزل په لړ کښے دَ داغ خدمتونو ته پیرزوینے وړاندے کړے وے - دَ دے مرثیے په لاندینو شعرونو کښے چه چرته دَ داغ دَ لوئے والی منته په نظر راځی، نو ورسره ورسره دَ اقبال" دَ داغ دهلوی سره دَ ارادت اَوْ عقیدت هم پُوره پُوره اظهار کیږی -

چل بسا داغ آہ! میت اس کی زیبِ دوش ہے	(ترجمه) آه! داغ لاړ، دَ هغه مړی دَ خلقو اوږو ته ښکلا کړے دی
آخری شاعر جہاں آباد کا خاموش ہے	دَ جهان آباد آخری شاعر خاموش دے - څوک به دَ عشق هم هغه شان
ہو بہو کھینچے گا لیکن عشق کی تصویر کون؟	تصویر راکښی؟ غشی ویشتونکے خو لاړ، اوس به
اُٹھ گیا ناوک فگن، مارے گا دل پر تیر کون؟	په زړه څوک غشی ولی؟

دَ مغلو دَ حکومت دَ زوال نه پس په هندوستان کښې مرزا داغ دهلوی دَ اُردو ژبے یو ډیر دَ ویاړ قابل اَوُ دَ زمانے غوره شاعر وو۔ ځکه خو داخبره کولے شی چه داغ دهلوی دَ خپلے تجربے اَوُ فنی بصیرت په وجه په اقبالؒ کښې دَ یو لوئے شاعر جوړیدلو صلاحیتونه لیدلی وو۔ ولے داخبره دَ غور قابله ده چه دَ هغه دوړ نوړو شاعرانو هم دَ اقبالؒ په باب کښې کم زیات هم هغه رائے قائمه کړے وه، کومه چه دَ داغ وه۔ په دے شاعرانو کښې دَ مرزا ارشد ګورګانوی نوم دَ ذکر وړ دے۔ څوک چه هغه وخت دَ پنجاب دَ سر شاعر شمارلے کیدو۔ په یوه موقعه هغه دَ اقبالؒ دَ شاعرئ دَ صلاحیتونو نه دومره متاثر شو چه هغهٔ دَ اقبالؒ دَ صفت کولو په وخت کښې ډیر په حیرانئ سره دا اووے۔ اقبال! په دے عمر کښے اَوُ دومره ښکلے شعر!

موتی سمجھ کے شانِ کریمی نے چن لیے
قطرے جو تھے مرے عرقِ انفعال کے

ترجمه:- دَ ملغلرو په ګمان کښې دَ الله کریم شان هغه راغونډ کړے، کوم قطرے چه زما دحیا (شرم) په وجه په مخ راغلي وو

کله چه اقبالؒ دوویشت کلن شو، نو دَ اعلیٰ تعلیم دپاره لاهور ته راغے چرته چه هغوئ په ګورنمنټ کالج کښې داخله واخسته اَوُ په ۱۸۹۷ء کښې ئے په عربئ اَوُ انګریزئ کښې په اوچتو نمبرو سره دَ بی اے ډګری واخسته دَ هغې په نتیجه کښې ورته دَ ایم اے کولو دپاره وظیفه ورکړے شوه۔ علامه اقبالؒ ایم اے په فلسفه کښې اوکړه اَوُ اول راغے، چه ورته تمغه ورکړے شوه۔

دَ دے اعزاز اَوُ امتیاز نه لویه خبره دا وه چه علامه اقبالؒ دَ یونیورسټئ دتعلیم په ورځو کښې داسے دوستان بیا مُوندل چه هغوئ تر ژوندانهٔ ورسره دوستی اوپالله۔ په دے دوستانو کښې یو دوست پروفیسر (سر) ټهامس آرنلډ (۱۸۶۴ء-۱۹۳۰ء) وو، دَ دوئ په نګرانئ کښې اقبالؒ

دَ فلسفے تعلیم حاصل کړو - پروفیسر آرنلډ دَ انډین ایجوکیشنل سروس په بنو استاذانو کښے شمارید لو - چه روستو هغوئ ته په علی ګړه کالج اؤ علی ګړه مسلم یونیورسټئ کښے دَ لولو عزت حاصل شو - دَ مولوی میرحسن په شان پروفیسر آرنلډ هم ډیر زر دَ ذلمی اقبال" دَ قابلیت اؤخواهش اندازه اولګوله - هغوئ دَ تعلیم په دوران کښے اقبال" یو ډیر قابل، هوښیار اؤ پوهه بنیادم بیامونډلو په دے وجه دَ شروع نه پروفیسر آرنلډ دَ اقبال سره خواری اوکړه - دَ هغوئ داد کیرنه ئے اوکړه اؤ دَ هغوئ سرپرستی ئے اوکړه - هغه نهٔ یواځے داچه دَ اقبال" دَ طبع اؤ مزاج نه واقف شوے وو، بلکه دَ هغهٔ سره ئے پوره پوره همدردی لرله - دغه شان دَ اقبال" په تعلیم اؤ تربیت کښے پروفیسر آرنلډ هم هغه هومره بنهٔ کردار ادا کړو لکه څومره چه مولوی میرحسن ادا کړے دے. کهٔ مولوی میرحسن اقبال" دَ شرقی افکارو، ادب اؤ علم سره متعارف کړے وو نو پروفیسر آرنلډ هغه دَ مغربی افکارو، فلسفے اؤ تهذیب سره بلد کړے وو - دغه شان دے دوارو استاذانو دَ اقبال" دَ علم په دولت پوره کولو کښے ډیر لوئے لاس لرلو - دَ علم دَ دولت په مونډلو په اقبال کښے دَ غور اؤ فکر عادت پیدا شو - دَ هغهٔ خیالات، تصورات اؤ افکار دَ وخت سره سره مخ په بره تلل - دَ اقبال" دَ فلسفے، عربئ اؤ اردو سره تړون تر آخره وخته پورے قائم وو - ظاهره ده چه په دے تړون کښے دَ مولوی میرحسن او پروفیسر آرنلډ ډیر لوئے لاس وو -

دَ اقبال دَ فکر ارتقا

دَ ایم اے دَ ډګرئ اخستو نه سمدستی پس اقبال" په اورینټل کالج لاهور کښے دَ عربئ میکلوډ ریډر رجوړ شو - وائی چه اقبال ته دا نوکری دَ پروفیسر آرنلډ په سفارش ورکړے شوے وه - ځکه چه دَ هغوئ سره په عربئ کښے دَ ایم اے ډګری نهٔ وه دے پروفیسر آرنلډ په اورینټل کالج کښے قائم مقام پرنسپل وو، اؤ هغوئ دَ علامہ اقبال" دَ عربئ دَ قابلیت په وجه

داسفارش کړے وو ۔ هغه وخت دَ اقبال" تنخواه صرف دره اویا روپئ
وه ۔ دَهغې نه پس اقبال" دَخپل قابلیت په وجه په گورنمنټ کالج لاهور
کښې دَ انگریزئ پروفیسر جوړ شو ۔ هغوئ په اسلامیه کالج لاهور کښے هم دَ
څهٔ وخت دپاره استاذی اوکړه ۔ په دے دوران کښے اقبال" دَ پنجاب سِول
سروس په امتحان کښے دَ کښېنوون کوشش اوکړو ۔ ولے هغه په طبی وجه پاتے
شو ۔ اَؤ ورته په دے امتحان کښے دَ کښېنوون کولو اجازت ورنهٔ کړے شو۔ هغه
وخت دَ اقبال" دپاره دا دَ مایوسئ خبره وه ، ولے کهٔ مونږ دَ اقبال" ټول
ژوند په نظر کښے اوساتو ۔ نو دَ دے مایوسئ او ناکامئ هیڅ معنے نشته۔
یاد لرئ چه مولانا محمد علی جوهر (۱۸۷۸ء ۔ ۱۹۳۱ء) دَ انډین سول سروس
په امتحان کښے ناکام شوے وو، ولے دوستو هغه دَ یو ډیر لوئے سیاسی
مشر په حیث مشهور شو اَؤ هغهٔ دَ مسلمان قوم دَ بښېگړے دَپاره ډیر دَ
قدر وړ خدمتونه اوکړل ۔ دغه شان اقبال" هم سول سروِنټ جوړ نهٔ شو
ولے هغه دَ یو لوئے شاعر اَؤ مفکر په حیث په تاریخ کښے ژوندے
پاتے شو ۔ هغوئ دَ خپلو خیالاتو اَؤ تصوراتو په بنیاد ډیرے لوئے
کامیابئ حاصلے کړے ۔ دَ لولولو دَ پیشے سره دَ دهٔ تر ۱۹۰۵ء پورے
شپږ کاله پورے تعلق پاتے شو ۔ په دے دوران کښے اقبال" ته دَ خپلے خوښے
دَ مضمونونو دزیاتے مطالعے موقع په لاس ورغله ۔ په دے دوران کښے
هغوئ دَ فلسفے ژوره مطالعه اوکړه ۔ په خصوصی ډول ئے په عقلیت پسندئ
اَؤ تصوف کښے ډیره زیاده دلچسپی واخسته چه دَ هغې په وجه په تصوراتو
او خیالاتو کښے ئے نوره پراختیا اَؤ پوخوالے راغے ۔ دَسوچ کولو توان ئے
زیات شو ۔ دَ هغهٔ دَ ذهن په تخلیقی اَؤ تجرباتی کوټ پیرونو کښے څرګنده
اِرتقا اَؤ په فکری صلاحیتونو کښے زیاته جلا پیدا شوه ۔ دَ دے هراړخیز
ترقئ په وجه دَ دهٔ په شعرونو کښے ژوروالے اَؤ پوخوالے پیدا شو ۔ اَؤ
خیالات ئے دَ یو مربوط توان سره بلد شول ۔ ځکه خو په دے دور کښے

اقبال" د یو ترقی کوونکی شاعر په حیث په ټول هندوستان کښې په ګوټ
ګوټ کښې مشهور شو۔

د ۱۸۹۹ء او ۱۹۰۵ء په مینځ کښې اقبال" په خصوصی توګه د درې رجحاناتو
نه متأثر شو او دا رجحانات وو، تصوف، رومانیت او د وطن مینه۔ په دې
ورځو کښې چه هغه کوم نظمونه اوليکل په هغو کښې دا درې واړه رجحانات
څرګند ښکاري۔

د تصوف په روایت کښې هغه ټول غزلې، قطعې او نظمونه شامل
دي چه په کښې د شرابو او ساقي استعارې استعمال شوي دي۔ د تصوف د
ټوله شاعري یواځې د اسلوب له مخه روایتي نه ده بلکه د هغه دور په
شاعرۍ کښې چه کوم خیالات څرګند کړي شوي دي۔ په هغو هم د روایت
ډوره چپه ګیدلې ده۔ د دې قسمه شاعرۍ په نړ کښې د هغوی نظم
"گل پژمرده" (مړځپن ګل) د مثال په توګه پیش کیدے شي۔ په د
نظم کښې د انسان د ناشنا توب د ما بعد الطبیعاتی اړخ څرګند کړے شو
دے۔ او دا خبره په ګوته کړے شوے ده چه دا دنیا د بنیادم دپاره بیګ
ناشنا ده۔ د دهٔ اصلی ځائے هغه جنت دے چه د دهٔ نه ورک شوے د
د چل اصلی ځائے نه د جدا کیدلو نه پس د دهٔ مثال د یو مړځپن ګل د
دا دوه بندونه اوګورئ۔

کس زباں سے اے گلِ پژمردہ تجھ کو گل کہوں
کس طرح تجھ کو تمنائے دلِ بلبل کہوں
تھی کبھی موجِ صبا گہوارۂ جنباں ترا
نام تھا صحنِ گلستاں میں گلِ خنداں ترا

تیرے احساں کا نسیمِ صبح کو اقرار تھا
باغ تیرے دم سے گویا طبلۂ عطار تھا
تجھ پہ برساتا ہے شبنم دیدۂ گریاں مرا
ہے نہاں تیری اداسی میں دلِ ویراں مرا

ترجمه:- اے مړځپن ګله! په کومه ژبه تا ته ګل اووا
تا ته د بلبل د زړهٔ خواهش څنګه اووایم
کله خو د سحر موج ستا د حرکت ځانګو وه
د ګلستان په غولي کښې ستا نوم خندیدونکے ګل
ستا احسان د سحر باد هم منلو
د ستا په وجه باغ لکه د عطار طبله وو
پرخه په تا باندې زما اوښکې بهوي۔
ستا په خفګان کښې زما د وران زړګی غمونه دي

میری بربادی کی ہے چھوٹی سی اک تصویر تو — تهٔ زما دَ بربادئ یو ورکوټے شان تصویر یې

خواب میری زندگی تھی جس کی ہے تعبیر تو — تهٔ زما دَ ژوند دَ خوب یو تعبیر یې

بشنو نے از نیستانِ خود حکایت می کنم
بشنوا اے گل از جدائیہا شکایت می کنم

ترجمه :- دَ بانسرئ په شان زهٔ دَ ځنګلو درمو دَ ځنګل قیصه بیانوم - واوره اے ګله ! زهٔ دَ جدائي قیصه بیانوم -

دَ فارسئ دَ دے شعر دَ استعمال نه اندازه کیږي چه علامه اقبالؒ په خپله هغکنۍ زمانه کښے دَ مولانا جلال الدین رومیؒ نه څومره متاثر وو - دَ دے ګرکند وجه دَ هغه دَ فکری مزاج وو - دا شعر دَ مولانا رومیؒ نه استفاده ده - خو په دے کښے دَ نظم دَ اسلوب اَوْ په خیالاتو باندے دَ روایت اثر دے - ولے خیالات چه په کوم ترتیب پیش کړی شوی دی هغه دَ علامه اقبالؒ دَ خپل خیال دَ توان کرشمه ده - اَوْ دَ خیالاتو دَ قوت دَ غه کرشمه دَ دوئ دَ انفرادیت ثبوت دے۔

دَ دوئ دَ دغه دور دَ شاعرئ بل رجحان رومانیت دے - چه ځانګے دَ دوئ دَ ماشوموالی دَ ماحول سره سمون خوری - دَ دوئ ماشوموالے دَ هالیه په لمن کښے تیر شوے وو - چرته چه په قدم قدم دَ فطرت تماشو هغوئ خپلے خواته راکښلی وُو - او دغه شان دَ دوئ دَ ذوق پالنه شوے وه - کله چه دوئ فطرت دَ خپل شعر موضوع جوړ کړو نو په اُردو کښے په اول ځل ورډسورت (۱۷۷۰ - ۱۸۵۰ء) کولرج (۱۷۷۲ - ۱۸۳۴ء) اَوْ دَ کوپر (۱۷۳۱ - ۱۸۰۰ء) دوایتے خپل کړو اَوْ دَ اُردو شاعرئ ئے په یو نوی انداز دَ خلقو سره پیژندګلو اوکړه - دغه شاعری مولانا محمد حسین آزاد (۱۸۳۲ - ۱۹۱۰ء) مولانا الطاف حسین حالی (۱۸۳۷ - ۱۹۱۴ء) اَوْ مولانا اسماعیل میرتھی (۱۸۴۴ - ۱۹۱۷ء) په شان یواځے دَ حکایتو نو بیانولو به نهٔ وه، بلکه په دے کښے جذبه، احساس اَوْ خیال ډیر په جادو کوونکی انداز کښے راغونډ کړی شوی وُو - دوئ دَ فطرت په سر خط باندے یو څو خیال راپاره کوونکی نظمونه اُولیکل - په دے نظمونو کښے "هماله کنشمیں، کنار راوی اَوْ ایک ارزو" ډیر مشهور اَوْ خوښ کړی شوی دی - کوری

چه اقبال رح دَ بهار دَ راتلو تصویر څومره ښکلے او زړه ته پریوتونکی انداز کښے کوی۔

خیز که در کوه و دشت خیمه زد ابرِ بهار
مست ترنم هزار
طوطی و دراج و سار
بر طرف جوئبار
چشمِ تماشا بیار
خیز که در کوه و دشت خیمه زد ابر بهار

ترجمه :- پاڅه! په غرونو اؤ بیابانونو کښے بهار چیله خیمه لګولے ده۔
بلبل په نغمو کښے مست دے
طوطی، تنځرے اؤ اوبتی
نغمے وائی
دَ ولے په طرف
اوګوره اؤ تماشه اوکړه
پاڅه! په غرونو اؤ بیابانونو کښے بهار خپله خیمه لګولے ده۔

"اقبال" دَ فطرت دَ فلسفے نه دَ ځان خبرولو دَ پاره "دکنارِ راوی" دا شعرونه اوګورئ۔

سکوتِ شام میں محوِ سرود ہے راوی
نہ پوچھ مجھ سے جو ہے کیفیت مرے دل کی
پیام سجدہ کا یہ زیر و بم ہوا مجھ کو
جہاں تمام سوادِ حرم ہوا مجھ کو
سرِ کنارۂ آبِ رواں کھڑا ہوں میں
خبر نہیں مجھے لیکن کہاں کھڑا ہوں میں

ترجمه :- دَ ماښام په خاموشئ کښے راوی سرود غږوی
دا تپوس رانه مه کوئ چه زما دَ زړه څۀ حال دے؟
دا زیر اؤ بم ماته دَ سجدے پیغام راکوی،
ماته ټوله دُنیا دَ حرم منځ کښ شوه،
زۀ دَ رواني اوبو په سر ولاړ یم،
خبر نۀ یم چه زۀ چرته ولاړ یم۔

په خپلو یو څو نظمونو کښے اقبال رح صوفیانه خیالات اؤ تصورات دَ فطرت

دَ مشاهدے سره پیلی اَوُ پیش کړی دی - دے ښکلی ګڼون دَ دوئ په شاعرئ کښے یو تازه والے اَوُ اثر پیدا کړے دے اَوُ یو عجب جادُوئے رابیدار کړے دے -

دَ اقبالؒ دَ هغه زمانے په شاعرئ کښے دریم څرګند رجحان دَ وطن سره دَ مینے جذبه ده - دَ وطن سره دَ مینے سره سره دَ هغوئ په نظمونو کښے دَ وطن پرستئ یا وطن دوستئ تپه هم په نظر راځی چه دَ هغه زمانے دَ عام فضا په وجه یوه فطری خبره وه - سره دَدے چه دَ هغه وخت په یو څو نظمونو کښے تبلیغ او پروپیګنډه هم څرګنده ښکاری، ولے هغوئ دا نقص ډیوره غنایت په پرده کښے ډیر په فنکارئ سره پټ کړے دے - دا دَ هغهٔ دَ فن کمال دے - دَ دوئ نظم "نیا شواله" په خصوصی توګه په دے کښے شامل دے - په دے نظم کښے شاعر په بامبڼ او مُلا دواړو دَ بنیادمو په مینځ کښے دَ اختلاف اَوُ بغض زیاتولو تور لګولے دے - هغوئ وائی چه .

سچ کہہ دوں اے برہمن! اگر تو بُرا نہ مانے
تیرے صنم کدوں کے بُت ہو گئے پرانے
اپنوں سے بیر رکھنا تُو نے بتوں سے سیکھا
جنگ و جدل سکھایا واعظ کو بھی خدا نے
تنگ آ کے میں نے آخر دیر و حرم کو چھوڑا
واعظ کا وعظ چھوڑا، چھوڑے ترے فسانے
پتھر کی مورتوں میں سمجھا ہے تُو خدا ہے
خاکِ وطن کا مجھ کو ہر ذرّہ دیوتا ہے
آ غیریت کے پردے اک بار پھر اٹھا دیں
بچھڑوں کو پھر ملا دیں، نقشِ دوئی مٹا دیں
سونی پڑی ہوئی ہے مدت سے دل کی بستی
آ اک نیا شوالہ اس دیش میں بنا دیں

ترجمه:- رښتیا به او وایم اے بامبڼه! که ته خفه کیږے نه
ستا دَ بُت خانو بُتان زاړهٔ شوی دی -
دَ خپلو سره بغض کول تا دَ بُتانو نه زده کړل
اَوُ خدائے واعظ ته هم جنګ جګړه اوښودل،
زهٔ آخر تنګ شوم، بُت خانه اَوُ حرم مې پرېښول
دَ واعظ وعظ مې پرېښودو او ستا قیصے مې پرېښودے،
دَ کاڼړی بُتان تا خدائے ګڼړلی دی،
زما دپاره دَ وطن هره یوه ذره دَ دیوتا په شان ده،
راځه! چه یو ځل بیا دَ پردی توب پرده اوچته کړو
سره جدا شوی بیا یو ځائے کړو اَوُ دجدائی نقشونه وران کړو،
دَ زړهٔ دُنیا دَ موده راسے ورانه پرته ده -
راځه چه په دے ملک کښے یو نوے درمسال جوړ کړو،

دنیا کے تیرتھوں سے اونچا ہو اپنا تیرتھ
دامانِ آسمان سے اس کا کلس ملا دیں
ہر صبح اُٹھ کے گائیں منتر وہ میٹھے میٹھے
سارے پجاریوں کو مے پریت کی پلا دیں
شکتی بھی شانتی بھی بھگتوں کے گیت میں ہے
دھرتی کے باسیوں کی مُکتی پریت میں ہے

زما تیرتھ (پاک ځائے) دَ دُنیا دَ تیرتھونو نه اُوچت دے
دَ آسمان دَ لمنې سره به دَ دے کنبت او نګوو.
هر سحر چه پاڅو نو هغه خواږه خواږه منترونه وایو
اَو ټولو پوجا کوونکو ته دَ مینې شراب ورکړو
طاقت اَو امن دَ بهګتانو په سندرو کښې شته
دَ دے وطن دَ اوسېدونکو خلاصے په مینه کښې دے

تا سو اولیدل چه دَ تکو خوږ لښت اَو دَ مصرعو رواني څومره په ښکلې انداز کښې د پروپیګنډے بے خوندی دَ شعر په خوند کښې پټوی.

په دغه زمانه کښې اقبالؒ خپله مشهوره هندی ترانه اولیکله چه دَ "هندوستان همارا" دَ سرخط لاندې مشهوره ده اَو اولنی شعر ئې دا دے.

سارے جہاں سے اچھا ہندوستاں ہمارا
ہم بلبلیں ہیں اس کی یہ گلستاں ہمارا

ترجمه:- دَ ټول جهان نه زمونږ هندوستان غوره دے
مونږ ئې بلبلان یُو او دا زمونږ چمن دے

داقبالؒ سوانح عمری لیکونکے یو غیر مسلمان چه نوم ئې اقبال سنګهـ دے دَ هغهٔ دَ بیان مطابق دَ قوم پرستئ دَ جذباتو نه ډکه دَ دے نه غوره ترانه لا تر اوسه چانهٔ ده لیکلے. په دغه زمانه کښې اقبالؒ "ہندوستانی بچوں کا گیت" هم اولیکلو چه په دے کښې ئې دَ هندوستان ستائنه کړے ده.

چشتیؒ نے جس زمیں میں پیغامِ حق سنایا
نانک نے جس چمن میں وحدت کا گیت گایا
تاتاریوں نے جس کو اپنا وطن بنایا
جس نے حجازیوں سے دشتِ عرب چھڑایا
میرا وطن وہی ہے، میرا وطن وہی ہے

ترجمه:- چشتیؒ چه په کومه مزکه دَ حق پیغام واورولو
نانک چه په کوم چمن کښې دَ وحدت سندره اووئیله
کوم ملک چه تاتاریانو خپل وطن جوړ کړو
چا چه دَ عربو نه خپلے صحراګانے هیرے کړے
زما وطن هغه دے، زما وطن هغه دے

دلته دَ وطن پرستئ سره دَ تصوّف اَو بهګتی تحریک خیالات دَ ذکر وړ دی.

درسره ورسره اقبالؒ دَ خپل وطن دَ ښکلا دَ منظرونو په باب کښې هم یو څو نظمونه لیکلی وُو. دَ هندوستان ښکلی منظرونه، دَ نمر راختل، دَ

نمر پریوتل، د دریابونو، غرونو، ښکلو محلونو، د لویو قلاګانو، د زړه راښکونکو باغونو او ښکلو مقبرو سرخطونه یې خپلو نظمونو ته خوښ کړل. په دې نظمونو کښې که یو خوا اقبال د هندوستان شان او شوکت او شاندار ماضي بیانوي نو بل خوا د خپل وطن او د وطن د خلقو په پریوتي حالت اوښکې بهوي. د هندوستان په بد حالت اقبال ډیر زړه سوزوونکي او د سوز نه ډک نظمونه لیکلي دي. دا خبره څه د حیرانتیا نه ده چه دا شعرونه د هغوی د وطن اوسیدونکو د زړونو تل ته پریوځي. څنګه هغه اورېدونکي چا چه د اقبال د کال ۱۹۰۴ء د دریمې میاشتې د انجمن په جلسه کښې "تصویر درد" اورېدلے وو نو هغوی ژړغوني شول په دے شعر کښې شاعر خبردارے ورکړے وو چه.

وطن کی فکر کر ناداں مصیبت آنے والی ہے
تری بربادیوں کے مشورے ہیں آسمانوں میں
ذرا دیکھ اس کو جو کچھ ہو رہا ہے ہونے والا ہے
دھرا کیا ہے بھلا عہدِ کہن کی داستانوں میں
یہ خاموشی کہاں تک، لذتِ فریاد پیدا کر
زمیں پر تو ہو اور تیری صدا ہو آسمانوں میں
نہ سمجھو گے تو مٹ جاؤ گے اے ہندوستاں والو
تمہاری داستاں تک بھی نہ ہوگی داستانوں میں

ترجمه:- اے ناپوهه! د وطن فکر کوه مصیبت راروان دے
په آسمانونو کښې ستا د بربادۍ خبرے کیږي
لږ دے ته پام کوه، څه چه کیږي یا څه کیدونکي دي
د زړے زمانے په داستانونو کښې څه پراته دي
تر څو به خاموشه یې؟ د فریاد خوند پیدا کړه
په مزکه خو دِ وي، په آسمانونو کښې هم خپل آواز پیدا کړه
د هندوستان خلقه! که پوهه نه شوئ نو ورک به شئ
په داستانونو کښې به ستاسو تیمۍ تذکره هم نه وي

د اقبال خیال وو چه په یوه قوم کښې د شاعر کردار هغه وي کوم چه په بدن کښې د سترګو وي. د دے ته سترګه یوه استعاره ده چه د حالاتو او کوائفو په غور سره د کتلو او پرے د پوهیدلو یوه څرګنده اشاره ده.

مبتلائے درد کوئی عضو ہو روتی ہے آنکھ
کس قدر ہمدرد سارے جسم کی ہوتی ہے آنکھ

ترجمه:- که د بدن هره یوه حصه دردیږي نو ژاړي سترګے
دا سترګے د ټول بدن څومره همدردے دي

د سترګو په شان شاعر هم د خپل قوم په مصیبتونو دردیږي او په خپلو

شعرونو کښې د وطن د خلقو د مصیبتونو تصویر راکښی او په دوئ کښې یو
نوے روح ورا چوی - دا نوے روح هغوئ د ناخبرئ د تیرو نه رااوباسی
او د خبر داری رڼا کانو ته دے راولی - "تصویر درد" او "نیا شواله" په شان
نظمونه د اقبال" د وطنیانو د جذباتو خواهشونو او خیالاتو ترجمانی کوی
ځکه خو چه دا نظمونه مشهور شول نو خلقو اقبال" قومی شاعر او بللو او د
دوئ مشهوری هرخوا او په هر کوټ اوشوه - او د دوئ خوښیدنه هرخوا
اوشوه او څو چنده زیاته شوه -

اقبال" یواځے د هندوستان د وطن پرستئ مدعی نه وو، ورسره ورسره
دا امروزه ژوند او په هندوستان کښے د پیښیدونکو واقعاتو نقاد هم وو-
په اصل کښے د غزل نه د وطن پرستئ تر نظمونو پورے سفر تش د سرخط
بدلیدل نه دی، بلکه دا سفر د لوئے تبدیلئ بنیاد هم دے - په موضوع
کښې د فائدے او مقصدیت سره په انداز کښے تازه والے او په لهجه کښے
مضبوطی د دے تبدیلئ څرګند صفت دے - په تیر وخت کښے دا اقبال نظمونه
د هغوئ ذاتی جذبات څرګندوونکی وو، و لے اوس ئے د ټول قوم د احساس
او جذباتو ترجمانی کوله - د ذاتی جذباتو نه تر قومی احساس پورے دے
سفر د اقبال" شاعرئ کښے همه ګیری او آفاقی توب پیدا کړو - کوم چه روستو
بیا د هغه د شاعرئ څرګنده ځانګړنه اوګرځیده -

د غه شان اقبال" اردو شاعری د یو اعلیٰ مقصد د پاره استعمال کړه یعنی
اجتماعی ژوندون، خیالات او تصورات ئے د خپلې شاعرئ سرخطونه جوړ کړل
او د خپل ملک د خلقو ځنے د ملکی مسئلو په لور واړوله - دغه مسئلے ئے
د دوئ په غور، فکر او احساس مرکز کړے - د دے نه علاوه اقبال" په دے
خبره هم زور اوکړو چه د هندوستان د حالاتو د بدئ کولو د پاره د
بے عملئ نه به ځان خلاصول وی-

او د عمل او حرکت فلسفه به په ډیر سختئ سره خپلول وی، د روایتی فکر

له لوریه دَ اصول اصل قرارے (سکون) بللے شی ، وے اقبالؒ دَ اصول اصل حرکت بیانوی ۔

دَ ۱۸۹۹ ء اَؤ ۱۹۰۵ ء په مینځ کښے دَ اقبالؒ زیات نظمونه یا خو دَ انجمن حمایت الاسلام په جلسه کښے او په ادبی جلسو کښے واورولے شول یا په دے کښے زیات په اُردو اخبارونو اَؤ ادبی رسالو کښے چاپ شول په دے رسالو کښے میاشتنئ مخزن دَذکر وړ دَه چه په خصوصی توګه دَ پنجاب مشهوره ادبی رساله شمارے کیده چه کومه دَ سر عبدالقادر (۱۸۷۷-۱۹۵۱) دَ نګرانئ لاندے چاپ کیده ۔

دَ اسلام شاعر

لکه څنګه چه وړاندے ذکر شوے دے چه پروفیسر تهامس آرنلډ څوک چه دَ اقبالؒ استاذ هم وو، دَ هغهٔ دے ډیر خوښ وو ۔ اَؤ دَ دهٔ دَ قابلیت منونه ئے کوله ۔ ځکه خو دَ پروفیسر آرنلډ داخیال وو چه اُوچت تعلیم اَؤ دَیورپ سفر به دَ اقبالؒ په ذهنی اُوچت والی او فکری ترقئ کښے ډیر زیات لاس اوکړی ۔ دُوئ اقبالؒ هم په دے خبره پوهه کړو ۔ اقبالؒ اول سر کښے خو راضی نهٔ وو، وے بیا ئے دَ پروفیسر آرنلډ مشوره اومنله ۔ دغه شان هغه په کال ۱۹۰۵ ء کښے ولایت ته روان شو ۔ یورپ ته دَ روانیدلو نه وړاندے اقبالؒ په دهلی کښے دَ حضرت خواجه نظام الدین اولیاءؒ په مزار حاضری اوکړه اَؤ خپل نظم "التجائے مسافر" ئے دَ نذرانے په ډول پیش کړو ۔ په دے نظم کښے اقبالؒ دَ حضرت خواجه نظام الدین اولیاؒ مقام اَؤ مرتبے بیان کړی دی اَؤ دَ خپلے ارادے دَ پوره کیدو دُعائے غوښتے دَه ۔

تری لحد کی زیارت ہے زندگی دل کی	ترجمه :- ستا دَ قبر زیارت زما دَ زړهٔ ژوند دے
مسیح و خضر سے اونچا مقام ہے تیرا	ستا مقام دَ خضر اَؤ مسیح نه اُوچت دے

چلی ہے لے کے وطن کے نگار خانے سے
شرابِ علم کی لذت کشاں کشاں مجھ کو
مقام ہمسفروں سے ہو اس قدر آگے
کہ سمجھے منزلِ مقصود کارواں مجھ کو
مری زبانِ قلم سے کسی کا دل نہ دکھے
کسی سے شکوہ نہ ہو زیرِ آسماں مجھ کو

دَ وطن دَ نګارخانې نه زهٔ راروان کړے يم
دَ علم شراب په راکښلو راکښلو دلته راوستے يم
دَ سفر دَ ملګرو نه زما مقام دِ دومره وړاندې وي
چه کاروان ما دَ خپل مقصد منزل شماري
زما دَ قلم دَ ژبې نه دَ چا زړهٔ ته تکليف اونهٔ رسي
دَ آسمان نه لاندې دَ مانه دَ هيچا ګله نهٔ وي

په يورپ کښې اقبالؒ درې[3] کاله پاتې شو. په دې دوران کښې هغوئ نور عزتونه حاصل کړل. د کيمبرج نه ئے دَ فلسفې ډګرى واخستله. په دې وجه اقبالؒ خوش قسمته وو چه په کيمبرج کښې هم ورته ډير مينه کوونکى او مهربانه استاذان په لاس ورغلل. په خصوصى توګه پروفيسر اى جى براؤن او آر اے نکلسن چاچه دَ دوئ دَ فکر په ځلنده کولو کښې ډير زيات اوچت کردار ادا کړو.

دَ کيمبرج نه ئے چه ډګرى واخستله نو جرمنى ته لاړ او په ميونخ يونيورسټئ کښې ئے دَ زياتې علم حاصلولو دپاره داخله واخستله. په ميونخ کښې هغوئ په ايرانى تصوف يو تحقيقى مقاله اوليکله چه سرخط ئے دا و

The Development of Metaphysics In Persia

په دې مقاله اقبالؒ ته دَ ډاکټرئ ډګرى ورکړے شوه. دوئ دَ قانون کورس هم پوره کړو او په کال ۱۹۰۸ء کښې بيرسټر جوړ شو.

په يورپ کښې د پاتيکيدلو په ورځو کښې ډګرئ اخستل څهٔ دومره لويه خبره نهٔ وه. اصلى مقصد او اهميت خو ئے لويه مشاهده او دَ مطالعے کول وو چه دَ هغې په وجه دوئ د يورپ دَ ژوند دَ انداز نه خبر شول. په دې ورځو کښې يورپ دَ دُنيا دَ ټولو نه طاقتور براعظم وو. هغه دَ علم او فکر دَ اوچتوالى سره سره دَ توان او دولت په اعتبار هم په دُنيا کښې دَ ټولو نه وړاندې وو. ځکه خو چه اقبالؒ په يورپ کښې څهٔ اوسيدل نو هغې دَ دهٔ په زړهٔ او ذهن ژور اثر واچولو.

اقبال" د یورپ د دې خصوصیتونو نه ډیر زیات اثر اخستے وو. اوله خبره خو دا چه د یورپ خلق به هر وخت په کار کښے بوخت وو. او د خپل وخت استعمال ئے ډیر ښه کولو. دوئ د توانئ او تخلیق کولو بے حده زیات توان لرلو چه د هغې په وجه د یورپ د خلقو د ژوند معیار ډیر اوچت شوے وو. دوئمه خبره دا چه دلته په اول ځل اقبال" ته دا احساس اوشو چه د سائنس امکان څومره زیات دے. سائنس او سائنسی مطالعے یورپ ته په ټوله دنیا غلبه ورکړه. نوی مشینونه، نوی خیالات او نوی ایجادونو هغه ټول څیزونه وو چه لا تر اوسه هندوستانیان ترې واقف نۀ وو. او بل خوا په یورپ کښے دا څیزونه عام وو بلکه د هغوئ په امروزه ژوند کښے شامل وو. هره ورځ په نوی ایجادونه کیدل. ګویا د هغه خلقو په ژوند کښے د پرله پسے کوشش او ترقئ یوه سلسله روانه وه. دوئمه خبره دا چه د یورپ خلق که یو خوا د آرام ژوند تیروونکی وو نو بل خوا ئے دا خواهش وو چه د یو بل نه مخ په وړاندے لاړ شی. د وړاندے تلو د غه خواهش لکه څنګه چه مونږ ته معلومه ده چه د سرمایه دارانه ژوند د نظام یو بنیادی اصول دے. دغه نظام په یورپ کښے روان وو. څکه خو داسے مقابله او د وړاندې تلل د یورپ د خلقو په ژوند کښے یو لازمی شرط لوړ شوے وو. د دے اصول په وجه د یورپ د خلقو دا خیال وو چه د دوو قومونو په مینځ کښے مقابله او د وړاندے کیدلو جذبه یوه فائده منده خبره ده. د دے خبرے په پیدا کیدو نیشنلزم او د وطن سره مینه زیاتیږی څۀ چه د دوئ په خیال کښے یوه ښه جذبه وه. وے د دے جذبے د ټولے فائدے سره سره دا خبره د غور جوګه ده چه د مقابلے او وړاندے کیدلو دا جذبه ورځ په ورځ دومره زیاتیدله چه آخر تر د تباهئ صورت هم پیدا کیدے شو. څکه خو ډیر زر اقبال" په دے خبره پوهه شو چه د نیشنلزم دغه شکل یورپ ډیر په تیزئ د جنګ په لور بیائ. نو

اقبال" دَ سرمایه دارئ دَ نظام او نیشنلزم نه ذرهٔ بد ے شو چه دَ هغې په وجه دَ فرد اَوُ قوم په مینځ کښے دَ بے واکو مقابلے اَوُ دورانده تګ جذبه پیدا کیدله - اقبال" دا خبره هم محسوسه کړه چه په یورپ کښے دَ رنګ اَوُ نسل تعصب عام شوے دے - اَوُ هلته فرد اَوُ قوم په دَ غه بنیادونو ویشلے شی - دَ اقبال" په خیال کښے دَ فکر دغه انداز دَ انسان دَ یو والی د بنیادی اصول خلاف کار وو - هغوئ صفا دا ليدل چه یورپ په کوم لور روان دے؛ خپل دے شک اظهار هغوئ په دے لاندینو شعرونو کښے کړے دے -

دیارِ مغرب کے رہنے والو خدا کی بستی دکاں نہیں ہے
کھرا جسے تم سمجھ رہے ہو وہ اب زرِ کم عیار ہوگا
تمہاری تہذیب اپنے خنجر سے آپ ہی خودکشی کرے گی
جو شاخِ نازک پہ آشیانہ بنے گا ناپائیدار ہوگا

ترجمه - دَ یورپ اوسیدونکو دَ خدائے دُنیا دوکان نه دے
تاسو چه کومه روپئ کهرا شمارئ هغه به کوټه وی
ستاسو تهذیب به په خپل خنجر ځان ووژنی
کومه ځاله چه په کمزورے څانګه جوړیږی هغه به کچه وی

په یورپ کښے دَ استوګنے په ورځو کښے دَ اقبال" په فکر کښے دَ تصوف دَ رواجی تصوّر سره هم دَ هغوئ اختلاف پیدا شو - ځکه چه هغوئ دا خبره محسوسه کړه چه په رواجی تصوف کښے دَ فعال ژوند تیرولو په ځائے دَ اسانطلبئ او پرله پسے دَ کوشش په ځائے په توکل اَوُ دَ دُنیا پریښودلو پرچار باندے زور شوے دے - په ایرانی تصوّف دَ تحقیق په ورځو کښے هغوئ دا هم محسوسه کړه چه په کوم رنګ اَوُ انداز کښے دَ تصوّف فلسفه وړاندے کیږی دَ هغه رنګ په اسلام کښے هیڅ نو نمائش نشته -

اوس اقبال" دَ دُنیا دَ قسما قسم مسئلو دَ حل یکی یوه ذریعه دَ اسلام په تعلیم کښے لټوله اَوُ په دے خبره ئے زور ورکولو - زیاتے مطالعے اَوُ غور فکر هغه دے نتیجے ته رسولے وو چه اسلام دَ پرله پسے کوشش اَوُ لټون دینا کوی - اَوُ هغه بنیادم ته دَ خپل چاپیرچل په حالاتو اَوُ معاملو دَ سوچ اَوُ فکر کولو ترغیب ورکوی - ځکه خو اقبال" دے نتیجے ته درسیدو چه دَ قومی کردار دَ جوړښت دپاره به خپل قوم ته دَ اسلام اَوُ دَ هغه عظیم پیغام

نه خبر وی۔

دلته دا سوال پیدا کیږی چه د بنیاد موا او قومونو په مینځ کښے چه کومه مقابله او د یو بل نه د وړاندے کیدو سلسله جاری ده، آیا د اسلام څخه د دے د حل واقعی څه پیغام شته ؟ اقبالؒ د دے سوال د ځواب په تلاش کښے د مغربی قومونو د تصوراتو او نظریاتو هم ژوره مطالعه کړی وه۔ وے په هغو کښے هیڅ داسے څیز په نظر ورنغے چه هغه بغیر د څه تبدیلئ نه د قبلولو جوګه ګنړلے وے۔ آخر د اسلام د عالمګیرے رورولئ او د اسلامی مساواتو په اصولو کښے ئے د دے خبرے حل بیا مونده۔ څنګه چه په تاریخی دول دا خبره ظاهره ده چه د اسلام په اولنو ورځو کښے نه یواځے دا چه د رورولئ او مساواتو خبرے په د منبر نه کیدے بلکه په امروزه ژوندکښے پر پوره پوره عمل هم کولے شو۔ د مثال په دول دویم خلیفه حضرت عمرؓ د قریش د مشهورے قبیلے سره تعلق لرلو۔ حضرت بلالؓ یو حبشی وو۔ چه د خپل عمر زیاته برخه ئے د یو غلام په حیث تیره کړی وه۔ بل خوا حضرت سلمانؓ پید ائشی ایرانے وو۔ وے دا ټول مسلمانان وو۔ او په دے دول تول یو برابر وو۔ ځکه خو اقبالؒ دا خبره محسوسه کړه چه د دنیا په تاریخ کښے د اسلام ابتدائی دور هم یو داسے مثال پیش کوی چه داسے مثال د بل یو مذهب په تاریخ کښے په لاس نهٔ راځی۔ یواځے اسلام هغه مذهب دے چه په کښے د یووالی او رورولئ ډیر پراخ ګنجائش شته۔ د اسلام په نظر کښے بنیادم که د کوم یو نسل نه هم وی، د هر یو ملک سره چه تعلق لری، رنګ ئے که هر څهٔ وی، دوئ په خپلو کښے یو برابر دی۔ او د برابرو حقونو مالکان۔ اقبالؒ دا هم اولیدل چه د دنیا تاریخ د دے خبرے ګواه دے چه د اسلام د تعلیم د اثر لاندے د مختلفو ملکونو خلقو د یو څو صدیو داسے د دنیا د مسلمانانو د حالت بنهٔ کولو د پاره د مشترکه عمل مظاهره کړے ده۔

اقبال دَ خپلے ډیرے مطالعے اؤ پوره تحقیق نه پس په دے نتیجه رسیدلے وو چه اسلام هم دَ مکمل جرأت اؤ دَ فعال ژوند تیرولو درس ورکړے دے. داسے مکمل اؤ فعال ژوند چه اقبال په یورپ کښے په خپلو سترګو کتلے وو. چه دَ هغے په وجه یورپ دَ ترقئ په لار روان وړاندے تلو - خو ورسره ورسره هغوئ دا هم اولیدل چه دَ یورپ دَ تعصب اؤ تنګ نظرئ دَ روایاتو برخلاف اسلام بنیادم دَ خپل قابلیت په تول تلی - اؤ دَ بنیادم دَ مقام دَ تاکلو په لړ کښے دَ هیڅ قسم تنګ نظرئ نه کار نهٔ آخلی - ددے نه علاوه دَ رنګ اؤ نسل په وجه چه کوم فرق اؤ اختلاف پیدا شوے دے. اسلام دے ته هم په بد نظر ګوری - دغه شان که یوخوا اسلام دَ فعال ژوند خلقو ته بلنه ورکوی نو بل خوا دَ بنیادمو په مینځ کښے اؤ دَ قومونو په مینځ کښے په بے رحمئ سره دَ یو بل نه دَ وړاندے تګ عمل ته بد وائی - اسلام په انسانی رورولئ اؤ مساوات زور ورکړے دے . دغه یو اصول دے چه دَ نیشنلزم خرابئ اؤ دَ رنګ اؤ نسل فرق ورکوی - ځکه خو اقبال دا خبره محسوسه کړه چه په اسلام کښے داسے اُصول موجود دی چه دَ نوی دُنیا دَ مسئلو حل پیش کولے شی - دَ هغے په رڼا کښے دَ یو داسے نوی دُنیا جوړول ممکنه خبره ده چیرته چه به انسان په امن اؤ خوشحالئ سره ژوند تیروی - دغه شان اقبال دَ اسلامی دُنیـا دَ اتحاد په لور مائل شو - ځکه چه دَ هغوئ په نظر کښے تش اسلام یو داسے مذهب دے چه په کښے دَ رنګ ، نسل ، ملک اؤ قوم دَ فرق اؤ اختلاف هیڅ ګنجائش نشته اؤ دَ دُنیـا ټول مُسلمانان یو اُمت یا ملت حسابیږی - دَ حضور صلی الله علیه وآله وسلم ارشاد دے چه دَ دُنیا هره ځـه زما دَ پاره دَ یو جماعت په شان ده - اقبال دَ حضور صلی الله علیه وآله وسلم دَ دے ارشاد په رڼا کښے دا اعلان اوکړو

هر ملک ملک ماست که ملک خدائے ماست

ترجمه :- هرهغه ملک زما ملک دے چه زما دَ خدائے ملک دے

دَدے وجے له مخے اوس اقبال دا فیصله اوکړه چه هغه به خپل
پاتے ژوند دَ اسلام دَ خدمت دپاره وقف کوی ۔

لکه څنګه چه وړاندے ذکر شوے دے چه اقبال دَ یو رومانی اَوُ قوم پرست
شاعر په توګه په ۱۹۰۵ء کښے دَ هندوستان نه لاړ وو اَوُ چه هرکله په
۱۹۰۸ء کښے دَ یورپ نه وطن ته بیرته راغے ۔ نو هغه دَ اسلام، دَ اسلامی
عقیدے اَوُ اسلامی اتحاد یو ذوروَر تبلیغ کوونکے وو ۔ ددے خبرے دا
مطلب چرے هم نهٔ دے چه دَ وطن سره په مینه کښے څهٔ کمے راغلے
وو بلکه دَ خپلے لوئے مطالعے اَوُ مشاهدے نه پس هغه اوس دے نتیجے
ته رسیدلے وو چه یواځے هندوستان نه بلکه دَ ټولے دُنیا دَ مسئلو
یو حل تش په اسلامی تعلیم کښے شته ۔ ځکه خو دَ اسلامی تعلیماتو په
صحیح رنګ کښے پیش کول دَ ټول انسانیت خدمت دے ۔ دَ دوئ په نزد
اسلام دَ معاشرت دپاره داسے عالمګیر اصول ټاکلی دی چه هغه
تش دَ اسلامی مِلّت دَپاره نهٔ دی بلکه دَ ټولے انسانی رورولئ
دپاره دَ هدایت سرچشمه ده ۔

یو جرمن شاعر په یوه موقعه دا اعتراف کړے وو چه زهٔ دَ دُنیا
دَ یو داسے ښهری په حیث دَ خپلو خیالاتو څرګندونه کوم چه هغه دَ
چا بادشاه په خدمت کولو مامور نهٔ دے ۔ ما خپل پلارنئ وطن
(په نظریاتی ډول) پریښودلو اَوُ ټوله دُنیا ے خپله کړه ځکه چه
دَ دُنیا لوئے قومونه هم دَ قوم په حیث دَ دُنیا تر یوے حصے پورے
محدود وی ۔ دَ اقبال په وړاندے هم اوس دَ مزکے یوه ټوټه
نهٔ وه بلکه پوره دُنیا وه ۔ اوس دَ دوئ په خصوصی ډول دَ
خبرو موضوع اسلامی دُنیا وه ۔ ګومه چه دَ کروړونو آبادئ پامته داره
دَ مراکش نه تر انډونیشیا پورے پرته وه ۔ دلته به دا خبره به

ذهن کښې ساتئ چه علامه اقبال؂ اسلامي دُنیا دَ خپلو خبرو موضوع جوړه کړه وے په خپله آفاقي نظریه کښې ئے څهٔ نقص نهٔ دے راوستے. ځکه چه ئے هر څو ډوئ خطاب اسلامي دُنیا ته کړے دے، وے په خپل خطاب کښې چه هغوئ دَ کومو اصولو تبلیغ کړے دے. هغه آفاقي دی. په دے اصولو کښې رنګ، نسل یا دَ ملک اَوُ قوم په بنیاد هیڅ قسم ګنجائش موجود نهٔ دے.

اقبال؂ دَ دے اُوچتو اَوُ ښو تصوراتو اَوُ نظریاتو سره هندوستان ته راغے اَوُ په لاهور کښې ئے وکالت شروع کړو. ورسره ئے په ګورنمنټ کالج کښې دَ لوللو کار هم شروع کړو. دے په دے دور کښې دَ خپلو تصوراتو اَوُ نظریاتو دَ کار په حاج اخستو کښې دومره بوخت وو چه دَ لوللو کار ته ئے دومره زیات وخت ور نهٔ کړے شو. ترڅو چه دَ هغوئ دَ وکالت دَ کار تعلق وو، نو هغوئ تش دومره قدر مقدمے اخستے چه دَ دوئ دَ ژوند ضرورتونه پرے پوره کیدے شول. دا باقي وخت هغوئ یک لوست ته وقف کړو. دَ ګورنمنټ کالج دَ پروفیسرئ نه ئے ډیر زر استعفیٰ ورکړه، ځکه چه هغهٔ ته دا احساس شوے وو چه په سرکاري نوکرئ کښې دے دَ خپلو خیالاتو اَوُ نظریاتو اظهار په آزادئ سره نشي کولے. په دے ورځو کښې علامه اقبال؂ ته په علی ګړه یونیورسټئ کښې دَ تاریخ دَ پروفیسر په حیث دَ نوکرئ پیش کش اوشو. وے هغوئ معذرت اوکړو.

دَ یورپ نه په واپسئ دَ علامه اقبال؂ په شهرت اَوُ مقبولیت کښې ډیره اضافه اوشوه. هغه دَ اسلام دَ شاعر په نوم مشهور شو. دَ هندوستان مسلمانانو دَ دهٔ سره ډیر داسے اُمیدونه تړلی وُو. چه دے به دَ هغوئ دَ زړهٔ دَ جذباتو او احساساتو ترجماني کوی اَوُ دَ دوئ لار ښودنه به کوی. علامه اقبال؂ دَ اجتماعی احساساتو اَوُ جذباتو

ترجماني په داسے اثرناکه طريقه اوکړه چه اوس دَ دوئ خبرے اَؤ دَ دوئ دَشعرونو آوازه دَ بجي محفلونو اَؤ جلسونه بهر په کوڅو کښے اَؤريدے شوه.

لکه څنګه چه مونږ وړاندے ذکر کړے دے، چه شاعر دَ خپل قوم دَ جذباتو عکاسي کوي اَؤ دَهغه شاعري دَ خپل وَخت دَ نظرياتو اَؤ خيالاتو آئينه وي - دَ خيالاتو اَؤ نظرياتو دَ تبديلئ سره سره دَ بدن انداز هم بدليږي دَ تَشکو او استيعارو نوي نوي اړخونه را وُځي - ځکه نو دَ اقبال" په شاعرئ کښے هم دا دَ ارتقا عمل جاري وو - په اول دور کښے به هغهٔ دَ فطرت بنګلا اَؤ دَ هندوستان دَشان شوکت سند رے ويلے، ولے اوس دَ هغوئ شاعري دَ اسلام اَؤ مسلمانانو دَ دبدبے سَره سره دَ اسلامي تصور، دَ ژوند اَؤ کائنات په باب کښے فکر رالړزوونکے تفسير جوړ شو - که په اول سر کښے دَ هغوئ شاعري دَ هندوستان دَ قومي بيداري يوه اثرناکه ذريعه وه نو اوس هغه دَ ټولے دنيا دَ ځان نه دَ خبريدلو سره دَ تلي وخت دَ بيا پيژندګلوي اثرناکه ذريعه جوړه شوي ده -

په اسلامي موضوع اقبال" اول نظم په ۱۹۰۸ء کښے اوليکلو - کله چه دے هندوستان ته واپس راتلو اَؤ دَ سسلي دَ جزيرے سره راتيريدو نو دَ اقبال" په سترګو کښے دَ عربو هغه زبردست تاريخ راتازه شو، چه په نتيجه کښے ئے دهٔ يوه فکر راپاروونکے مرثيه اوليکله - دلته به دا خبره بے ځايه نهٔ وي چه دَ ايران مشهور شاعر شيخ سعدي (۱۱۸۴ء - ۱۲۹۲ء) دَ منګولو دَ لاسه دَ بغداد په تباهئ اوښکے څڅولے وے - دَ اندلس يو لوئے عرب شاعر ابن بدرون (د مرينے کال ۱۱۳۲ء) په سپين کښے دَ بنوالافطس په زوال مرثيه ليکلے وه - مرزا داغ دهلوي په ۱۸۵۷ء ژړا کړي وه - اوس دَ اقبال" وار وو، چه هغه دَ سسلي (صيقله) په وراني اوژاړي اَؤ مرثيه اوليکي. هغه سسلي چه په يو دور کښے په مغرب کښے دَ اسلامي تهذيب دَ فخر ور مرکز وو - دَ اقبال" په مرثيه کښے دَدے حقيقت پوره پوره اندازه لګيږي

چه هغه دَ سسلی په تباهئ اَوُ ورانی ټومره دړ دیدلے وو - راځئ چه دا قبالؒ په دے مرثیے کښے دَ هغهٔ دَ درد اَوُ د هغهٔ ددے واقعے سره دَ تړون انداز ه اوکړو چه دَ اسلامی ملت سره ئے لرلو -

روئے اب دل کھول کر اے دیدۂ خونابہ بار
وہ نظر آتا ہے تہذیب حجازی کا مزار

تھا یہاں ہنگامہ ان صحرا نشینوں کا کبھی
بحر بازی گاہ تھا جن کے سفینوں کا کبھی

زلزلے جن سے شہنشاہوں کے درباروں میں تھے
بجلیوں کے آشیانے جن کی تلواروں میں تھے

اک جہانِ تازہ کا پیغام تھا جن کا ظہور
کھا گئی عصرِ کہن کو جن کی تیغِ ناصبور

مردہ عالم زندہ جن کی شورشِ قُم سے ہوا
آدمی آزادِ زنجیرِ توہم سے ہوا

غلغلوں سے جس کے لذت گیر اب تک گوش ہے
کیا وہ تکبیر اب ہمیشہ کے لئے خاموش ہے ؟

آہ! اے سسلی! سمندر کی ہے تجھ سے آبرو
رہنما کی طرح اس پانی کے صحرا میں ہے تُو

زیب تیرے حال سے رخسارِ دریا کو رہے
تیری شمعوں سے تسلی بحر پیما کو رہے

ہو سبک چشمِ مسافر پر ترا منظر مدام
موج رقصاں تیرے ساحل کی چٹانوں پر مدام

تو کبھی اس قوم کی تہذیب کا گہوارہ تھا
حسنِ عالم سوز جس کا آتشِ نظارہ تھا

ترجمه:- اَئے وینے بیونکو سترگو! اوس دَ زړهٔ دا خلا اوژاړئ
دَ حجاز دَ تهذیب مزار هغه دے لیدهٔ شی
چرے نو دلته دهغه صحرا نشینانو هنګامه وه
کله خو دَ هغه خلقو دَ جهازونو دلته سمندر پوئے وه
دَ هغوئ په وجه چه دَ بادشاهانو په دربارونو زلزلے راتلے
دَ هغوئ دَ تورو نه چه دَ بجلئ شغلے ختلے
دَ هغوئ راتلل چه دَ یو نوی جهان پیغام وو -
دَ هغوئ صبر نهٔ کوونکو تورو چه زړهٔ دُنیا اوخوړله
دَ هغوئ په آواز چه مړه دُنیا بیا راژوندے شوه
انسان دَ وهم دَ زنځیر نه خلاص شو
تراوسه پورے چه دَ هغوئ دَ شور نه غوږونه خوند اَخلی
آیا هغه تکبیر اوس دَ همیشه دَ پاره خاموشه دے؟
آه! اے سسلی! دَ تا په وجه دَ سمندر عزت پاتے دے
ته دَ اوبو په صحرا کښے دَ لار ښوونکی په شان ئے
ستا په وجه دے دَ دریاب اننګی ښکلی دی
ستا په شمعو دے دَ سمندر ناپ کوونکی تسله لری
ستا منظر دِ تل دَ تیز تلونکی مسافر په وړاندے وی
ستا دَ ساحل په کمتونو دِ تل څپے نڅاکوی
یو وخت کښے ته دَ دے قوم دَ تهذیب ځانګووے
جهان سوزوونکے ښکلا چه ددے اور تماشه وه

نالہ کش شیراز کا بلبل ہوا بغداد پر
داغ رویا خون کے آنسو جہان آباد پر
آسماں نے دولتِ غرناطہ جب برباد کی
ابنِ بدروں کے دلِ ناشاد نے فریاد کی

دَ بغداد په تباهئ دَ شیراز بلبل ژړا اوکړه
داغ دَ دهلي په تباهئ دَ وینو اوښکے اُوبهولے
کله چه آسمان دَ غرناطے ملک تباه کړو
دَ ابن بدرون خفا زړهٔ فریاد پیل اوکړو

غم نصیب اقبال کو بخشا گیا ماتم ترا
چن لیا تقدیر نے وہ دل کہ تھا محرم ترا

اقبال ته قسمت دَ ستا په غم ژړا نصیب کړه
تقدیر هغه زړهٔ نوبښ کړو چه ستا دَ راز نه واقف وو
ستا په کنډرو کښے دچا قیمتي پټے دی؟

ہے ترے آثار میں پوشیدہ کس کی داستاں؟
تیرے ساحل کی خموشی میں ہے اندازِ بیاں
درد اپنا مجھ سے کہہ، میں بھی سراپا درد ہوں
جس کی تو منزل تھا، میں اس کارواں کی گرد ہوں
رنگ تصویرِ کہن میں بھر کے دکھلا دے مجھے
قصہ ایامِ سلف کا کہہ کے تڑپا دے مجھے

ستا دَ ساحل په خاموشئ کښے دَ بیان انداز پټ دے
ماته خپل درد بیان کړه، ځکه چه زهٔ هم ټول دردیدلے یم
ته چه دَ چا منزل وے زهٔ دَ هغه کاروان ګرد یم
په زاړهٔ تصویر کښے رنګ اولګوه او ماته ئے اوښایه
ماته دَ تیرے زړے زمانے قیصه اووایه اُو ما اودړدوه

میں ترا تحفہ سوئے ہندوستاں لے جاؤں گا
خود یہاں روتا ہوں، اوروں کو وہاں رلواؤں گا

زهٔ به ستا دالئ هندوستان ته یوسم
خپله دلته ژاړم، هلته به نور اوژړوم

اقبال" چه وطن ته راغے نو څو کاله پس اسلامي دُنیا ته دوه لوئے واقعے وړپیښے شوے - په ۱۹۱۱ء کښے دَ لیبیا په دارالخلافه ټریپولي بغیر دَ څهٔ وجے دَ اټلي حکومت حمله اوکړه - هغه وخت لیبیا دَ ترکي دَ حکومت لاندے وه - په یو څو جنګونو کښے اټلي برے بیا مُوندو - آخر په ۱۹۱۲ء کښے ترکي دَ اټلي سره صلح اوکړه چه دَ هغے په نتیجه کښے ترکي دَ لیبیا، روډس اُو دودوکین نه لاس اووینځل - لا دَ اټلي سره جنګ جاري وو چه دَ بلقان درے ریاستونه یُونان، بلغاریه اَوُ سرجیه سره یوځائے شول او په ۱۹۱۲ء کښے ئے په ترکي حمله اوکړه - یو څو جنګونه اوشول - چه په کښے دَ ترکي فوځ پړله پسے ماتے اوخوړه، اتحادي فوځونو دَ ترکي دیورپ په ټولو علاقو قبضه اوکړه - اَوُ دَ ترکي په دارالخلافه قسطنطنیه ئے ګیره واچوله - دغه شان

ترکي چه په هغه وخت کښې يو حقيقي آزاد اسلامي ملک وو - دَ نصرانيانو دَلاسه دَ دوؤ کالو په کم وخت کښې دوه حمله د بول اوخوړل اَوْ ډيرے زياتے علاقے ئے دَ لاسه اووتے - ظاهره خبره ده چه دا حادثے دَ هندوستان دَ مسلمانانو دَپاره ډيرے زياتے دَ تشويش اوْ پريشانئ باعث جوړے شوے وے - ځکه خو دَ هندوستان دَ مسلمانانو په زړونو کښې دَ فيرنګيانو خلاف ډيره زياته غصّه پيدا شوے وه - دَ مسلمانانو دا خيال وو چه فيرنګيان په دے محاذونو دَ ترکيانو دشمنانو ته مدد ورکوي - اقبال" هم په دے تشويش اَوْ غصّه کښې دَ هند دَ مسلمانانو سره برابر شريک وو - هغوئ دَ طرابلس دَ واقعے نه متأثر شول او يو نظم "فاطمه بنت عبدالله" ئے اوليکلو - دا نظم چه هغوئ دَ لاهور په بادشاهي جامعت کښې دَ جمع دَ مونځ نه پس دَ ډيرو خلقو په وړاندے واؤرولو - دَ هغې نه دَ هغه ټولو خلقو دَ زړونو ترجماني کيده. اقبال" په دے نظم کښې دَ مسلمانانو دَ تباهئ اَوْ شکست نقشه ډيره په دردناکه طريقه راکښلے وه - ځکه خو دا نظم دَ اوريدونکو زړونو ته پريوتو اَوْ هغوئ ډير غونې شول -

اوس دَ اقبال" نظمونه دَ مسلمانانو دَ جذباتو، تشويش اَوْ پريشانئ اَوْ غم غصّے يوه اثرناکه ذريعه وه - اقبال" په خپله شاعرئ کښې دَ مسلمانانو پوره ترجماني کوله اَوْ دَ هغوئ نظمونه دَ ظالمانو اَوْ تقدير پرستو خلاف دَ کړوړے کار کولو - دَ اسلامي اُمّت دَ مينے نه مجبور شو نو هغوئ خپل مشهور نظم "شکوه" اوليکلو - چه په کښې ئے دَ خدائے نه هم ګله کړے وه - کوم خبرے چه دے ئے په ګله مجبور کړے وو هغه په اصل کښې په اکتوبر ۱۹۱۱ء دَ اټلي په طرابلس قبضه وه - دا لوئے نظم لکه دَ حضرت ايوب عليه السلام په شان دَ خدائے نه دَ ګلے يو نوے مثال وو - حضرت ايوب عليه السلام دَ خدائے تعالیٰ

نه دَ آفتونو اَوُ مصیبتونو گله کړے وه اَوُ اقبال" دَ خدائے نه دَ خپل قوم دَ پریشانو اَوُ مصیبتونو گله اوکړه - اقبال" خپله دا گله ډیره په دردناکه اَوُ دَ جوش په انداز کښے کړے وه - اَوُ دَ خدائے نه ئے تپوس کړے وو چه هغه خپل قوم ولے په دے مصیبتونو کښے راگیر کړے دے - اقبال" دَ خدائے تعالیٰ نه دَ مسلمانانو په حق کښے دَ رحمت خواست کولو - سره د دے چه "شکوه" یو لوئے نظم دے وَلے دَ یو څو شعرونو نه به په آسانه دا اندازه اولگولے شی چه اقبال" څومره دَ زړهٔ دَ درد نه دَ خدائے پاک په دربار کښے شکایت پیش کړو۔

امتیں اور بھی ہیں، ان میں گنہگار بھی ہیں
عجز والے بھی ہیں، مستِ مئے پندار بھی ہیں
ان میں کاہل بھی ہیں، غافل بھی ہیں، ہوشیار بھی ہیں
سینکڑوں ہیں کہ ترے نام سے بیزار بھی ہیں
رحمتیں ہیں تری اغیار کے کاشانوں پر
برق گرتی ہے تو بے چارے مسلمانوں پر

ترجمه: اُمتونه نور هم شته اَوُ په کښے گناهگاران هم شته
عاجزان هم په کښے شته اَوُ مست خلق هم شته
په دو کښے مست هم شته، غافل هم شته اَوُ هوښیار هم شته
په سلگونو داسے هم شته چه ستا دَ نوم نه بیزاره دی
ستا رحمتونه دَ غیرو په کورونو وریږی
اَوُ چه تندر پریوځی نو هغه په غریبو مسلمانانو پریوځی

څومره چه دَ اقبال" شکوه را لنډیږی - هغه هومره دَ هغهٔ تشویش دَ مسلمانانو په باب کښے زیاتیږی اَوُ هغه وائی چه -

بت صنم خانوں میں کہتے ہیں مسلمان گئے
ہے خوشی ان کو کہ کعبے کے نگہبان گئے
منزلِ دہر سے اونٹوں کے حدی خوان گئے
اپنی بغلوں میں دبائے ہوئے قرآن گئے
خندہ زن کفر ہے احساس تجھے ہے کہ نہیں؟
اپنی توحید کا کچھ پاس تجھے ہے کہ نہیں؟

ترجمه:- بتان په بت خانو کښے وائی چه مسلمانان لاړل
هغوئ خوشحاله دی چه دَ کعبے حفاظت کوونکی لاړل
دَ دُنیا دَ منزل نه دَ اوښانو حُدی خوان لاړل
قرآن ئے په خپلو تخرگونو کښے پټ کړے لاړل
کُفر خاندی تا ته څهٔ احساس شته که نه؟
دَ خپل توحید درسره څهٔ خیال شته که نه؟

دا اَوږد نظم په کال ۱۹۱۱ء کښے په اول ځل اقبال" دَ انجمن حمایت الاسلام په کالینه جلسه کښے واوړولو - په اَوریدونکو ډیر زیات اثر اوشو - هر کله چه


اقبال" شکوه اولیکله ، نو دَ خلقو دا خیال وو چه دا دَ اقبال ځانی گله ده اوُ هغه په خدائے (نعوذ بالله) دَ غفلت تور پورے کوی - سره دَ دے چه دَ "شکوه" دَ یو څو شعرونو نه بنیادم دا نتیجه اخستے شی - ولے په حقیقت کښے دا خبره درسته نۀ ده - دَ دے انداز که اعتراض کوُونکو ته هغه وخت اوشوه - چه اقبال" یو څو میاشتے پس یو بل اوږد نظم "جواب شکوه" اولیکلو - څرنګه چه په "شکوه" کښے هغه دَ مسلمانانو پیام دَ دوئ کمزورئ او بربوتی حال ته راکږځولے وو ، هلته په "جواب شکوه" کښے هغه اسباب اوُ دَ هغے حل وړاندے کړو - په لنډو ټکو کښے دَ "جواب شکوه" پیغام دا وو چه خدائے پاک دَ مسلمانانو سره بے انصافی نۀ کوی ، ولے مسلمانان په خپله دَ ځان سره انصاف کول نۀ غواړی - دَ اقبال" خیال وُو چه دَ مسلمانانو دَ موجوده حالت اصلی سبب دا دے چه دوئ هر څۀ په تقدیر ورتپی - که چرے دُوئ دَ قرآن په اُصولو عمل اوکړی نو دَ دُوئ کوششونه به دَ دوئ تقدیر جوړ شی -

راځئ چه اُوګورو چه اقبال" خپل خیالات څنګه په شعر کښے بیان کړی دی -

شور ہے ہو گئے دنیا سے مسلماں نابود
ہم یہ کہتے ہیں کہ تھے بھی کہیں مسلم موجود
وضع میں تم ہو نصاریٰ، تو تمدن میں ہنود
یہ مسلماں ہیں جنہیں دیکھ کے شرمائیں یہود
یوں تو سیّد بھی ہو، مرزا بھی ہو، افغان بھی ہو
تم سبھی کچھ ہو، بتاؤ تو مسلمان بھی ہو

ترجمه: دا غوغا ده چه دَ دُنیا نه مسلمانان ورک شول مُونږ وایو چه په دُنیا کښے چرے مسلمانان موجود وُو په شکل تاسو نصاری شوی اوُ په تمدن کښے هندوان دا مسلمانان دی چه که یهودئے اوګوری نو هم به اوشرمیږی هسے خو سیدئے ، مرزائے ، افغان ئے ته هر څۀ ئے خو دا راته وایه چه مسلمان هم ئے

دَ "جواب شکوه" په آخری حِصّه کښے اقبال" دا خبره په ګوته کوی چه مسلمانان به څنګه خپل هغه ورک شوے عزت او عظمت بیا حاصل کړے شی -



"اقبال منزل" سیالکوټ

(کس لاس ته) چرته چه
علامه اقبال پیدا شوے وو

"جاوید منزل" لاهور

(لاندے) چرته چه
علامه اقبال حق
اورسیدو



یارب دلِ مسلم کو وہ زندہ تمنا دے —

پھر وادیٔ فاراں کے ہر ذرہ کو چمکا دے —

محرومِ تماشا کو پھر دیدۂ بینا دے —

پیدا دلِ ویراں میں پھر شورشِ محشر کر —

بھٹکے ہوئے آہو کو پھر سوئے حرم لے چل —

آتش منتی جسکی کانٹوں کو جلا ڈالے —

رفعت میں مقاصد کو ہمدوشِ ثریا کر —

اس دور کی ظلمت میں ہر قلبِ پریشاں کو —

میں بلبلِ نالاں ہوں

تاثیر کا سائل ہوں

محمد اقبال ۱۲ اکتوبر ۱۱ء

علامہ کا تحریری عکس

ب کو گرما دے جو روح کو تڑپا دے

وقِ تماشا دے پھر ذوقِ تقاضا دے

ہے جو مجھ میں اوروں کو بھی دکھلا دے

محملِ خالی کو پھر شاہدِ لیلا دے

شہر کے خوگر کو پھر وسعتِ صحرا دے


ں بادیہ پیما کو وہ آبلۂ پا دے

وارئِ ساحل دے آزادئِ دریا دے

اغِ محبت دے جو چاند کو شرما دے


ے اجڑے گلستاں کا

کو داتا دے



(پاس) بادشاهي جُمات چرته به چه علامه اقبال خپل نظمونه اَوُرول

(لاندے) دَ جُمات په خوا کښے دَ علامه اقبال دَ آخری آرام ځائے



هغوئ وائي چه:-

عقل ہے تیری سپر عشق ہے شمشیر تری	ترجمه: عقل ستا ډال دے اُو عشق دِ تُوره ده
مرے درویش! خلافت ہے جہانگیر تری	زما درویشه! ستا خلافت جهانګیری ده
ما سوا اللہ کے لئے آگ ہے تکبیر تری	دَ خدائے نه سوا دَ هر څهٔ دِ پاره ستا تکبیر دَ اور په شان ده
تو مسلماں ہو تو تقدیر ہے تدبیر تری	کهٔ ته مسلمان ئے نو ستا تدبیر ستا تقدیر دے
کی محمدؐ سے وفا تو نے تو ہم تیرے ہیں	کهٔ تا دَ محمد صلی الله علیه وسلم سره وفا اوکړه نو موږ ستا یُو
یہ جہاں چیز ہے کیا لوح و قلم تیرے ہیں	دا جهان څه څيز دے لوح اَو قلم ستا دی

په دغه زمانه کښے اقبال" خپله مشهوره نغمه "ترانه مِلّی" اوليکله کومه چه دَ هندوستانی ترانے په وزن اَو طرز ليکلے شوے وه۔ وے دا دَ هندوستانی ترانے نه زياته اثرناکه اَو ولوله پيدا کوونکے وه۔ ځکه نو دا سمدستی په مسلمانانو کښے خلقو خوښه کړه اَو دَدے دا نتيجه را اووته چه دَ هندوستان په ګوټ ګوټ کښے دَ اقبال" حيثيت دَ "شاعرِ اسلام" په توګه پوخ شو۔

اِقبال" دَ شاعر اَو مفکر په حيث دَ هندوستان په ټولو علاقو کښے مشهور وو، هغوئ پرله پسے دَ شعر په فکر اَو کوشش کښے اخته وو۔ ځکه خو هغوئ په اُردو اَو فارسئ کښے يولس ديوانُونه چاپ کړل۔ په دے کښے نههٔ غټ غټ وو او دوه ورکوټی۔ په انګلستان کښے دَ پاتے کيدو په وخت کښے دَ يو دوست په مشوره اقبال" په اول ځل په فارسئ کښے دَ شعر وئيلو کوشش اوکړو او ډير زر ئے دا خبره محسوسه کړه چه دَ خپلو خيالاتو اَو تصوّراتو دَ پيش کولو دَ پاره فارسی دَ اردو نه زياته اثرناکه دَ اظهار ذريعه کيدے شی۔ دَ غه شان هغوئ په فارسئ کښے "اسرارِ خودی" نوم کتاب اوليکلو چه په ۱۹۱۵ء کښے چاپ شو۔ دَ هغے په نتيجه کښے اقبال" په ايران، افغانستان اَو ترڅه حده پورے په ترکئ اَو روس کښے په خلقو کښے مشهور شو۔ دَ کيمبرج پروفيسر نکلسن دَ اسرارِ خودی په انګريزئ کښے ترجمه په ۱۹۲۰ء کښے په ولايت کښے چاپ کړه۔ دَدے نظم څهٔ حصے په جرمنئ اَو اطالوی ژبو کښے

ترجمه شوې دی ـ په دے مثنوی کښے اقبال ویلی دی چه انسان د برله پسے کوشش په برکت خپل تعمیر اؤ تشکیل کولے شی ـ اؤ د خپل حقیقت تہ په رسیدلے شی ـ هغوی په هغه شاعرانو اؤ صوفیانو تنقید کړے دے چا چه خلقو ته د خپل ماحول بلکه د خپل بدحال سره د سمجهوتے وینا کړے ده ـ اؤ دوی ئے د هر قسم تبدیلئ نه منع کړی دی ـ په ایرانی شاعر حافظ (۱۳۲۰ـ ۱۳۸۸ء) اؤ په تصوف چه اقبال کوم سخت تنقید کړے دے ـ په هغے خلق ډیر غصه شول ـ ولے اقبال ډیر په هوښیارتیا سره د خپلو خیالاتو دفاع اوکړه ـ بیا هم د مثنوی په دوئیم ایډیشن کښے ئے د حافظ خلاف شعرونه د سره اوویستل ـ

په ۱۹۱۸ء کښے د هغوی دوئیمه مجموعه "رموزِ بے خودی" چاپ شوه چه د اسرارِ خودی په شان په فارسئ کښے ده ـ په "رموزِ بے خودی" کښے هم اقبال د "اسرارِ خودی" په شان خیالاتو سره وباره اؤ په پیچیده ډیه کښے وینا کړی ده ـ د دے مثنوی موضوع په معاشره کښے د ژوند بنیادم دیل بنیادم سره تعلق دے ـ

اقبال اؤ پاکستان

په ۱۹۲۲ء کښے اقبال ته د "سر" خطاب ورکړے شو ـ چونکه دا خطاب هغوی ته د علمی خدمت اؤ فکری کوشش د منلو په توګه ورکړے شوے وو. ځکه ئے قبول کړو ـ د هغه وخت نه پس هغه تر یو وخت پورے د سر محمد اقبال په نوم بللے کیدو ـ خو د پاکستان جوړیدو نه پس چه څومره د هغه پیش ندکلو د پاکستان د فلسفی په توګه کیده، نو هغه د علامه اقبال په نوم مشهور کیدو ـ سره د دے چه علامه اقبال د "سر" خطاب قبول کړے وو، ولے هغوی د خپلے آزادئ اؤ د فکر د آزادئ په لړ کښے

هیڅ قسم ته تبدیلی رانهٔ وسته - او تل ترتله ئے دا خبره په نظر کښے ساتله چه دَ خپل قوم دَ آزادئ دَ حاصلولو په کوشش کښے هغه طرف ته راغب کول دَ هغهٔ اولی فرض دے - په دے دوران کښے یوه موقعه داسے هم راغله چه اقبال" دَ لاهور هائی کورټ دَ جج په عهده ټاکلے کیدُونکے وو - ولے په یو څو بیانونو کښے هغوئ په حکومت سخت تنقید کړے وو ځکه ورته دا عهده ورنهٔ کړے شوه -

په کال ۱۹۲۳ء کښے سر میاں فضل حسین (۱۸۷۷ - ۱۹۳۶ء) څوک چه په هغه وخت کښے دَ پنجاب دَ مسلمانانو دَ سیاست مشر وو، دَ دے خبرے ته راضی کړو چه په قومی سیاست کښے عملی برخه واخلی - په میاں فضل حسین اقبال" ډیر زیات ګران وو - هغوئ په دے پوهیدل چه که اقبال" عملی سیاست ته راغے نو مسلمانانو ته ډیره فائده رسولے شی - ځکه څو ورځے کاله پس اقبال" دَ پنجاب دَ لیجسلیټو کونسل غړے چونړ کړے شو - دَ علامه اقبال" په عملی سیاست کښے راتلل دَ هغه وخت نه شروع کیږی - دَ خپل ژوندیه راتلونکو دَولس کالو کښے اقبال" دَ مسلمانانو په یوکولو اَو په سیاست کښے دَ پوره پوره برخه اخستو په باب کښے ډیر اُوچت کردار ادا کړو - دَ علامه اقبال" په هر وخت دا کوشش وو، چه په هندوستانی سیاست کښے مسلمانان خپل جُدا مقام پیدا کړی اَو دوئ دِ په هندوستان کښے دَ یو عزت من قوم په حیث اوپیژندلے شی -

دَ اقبال" دَ مسلم لیګ سره تړون دَ لندن دَ ورځو نه پیدا شوے وو - په ۱۹۰۸ء کښے وطن ته د راتلو نه څو میاشتے اګاهو دَ لندن دَ مسلم لیګ دَ مجلس عامله غړے ټاکلے شوے وو - دلته به دا خبره دَ ذکر وړه وی، چه دَ لندن دَ مسلم لیګ څانګه دَ بنګال یونیورسٹی جج دَ سیراسین دَ تاریخ اَو دَ نورو اهمو کتابونو لیکوال سید امیرعلی (۱۸۴۹ - ۱۹۲۸ء) جوړه کړی وه هغه تر څو کاله پورے دَ هغے صدر پاتے شوے وو - علامه اقبال" دَ

۱۹۲۷ء نه دے پلو دَ پنجاب مسلم لیګ په کارونو کښے پوره پوره برخه اخستل شروع کړل - دَ دے کاله پس دَ قائد اعظم (۱۸۷۶ - ۱۹۴۸ء) په مرضئ دوئ ته دَ آل انډیا مسلم لیګ صدارت وړاندے کړے شو۔ علامه اقبالؒ په دسمبر ۱۹۳۰ء کښے په اله آباد کښے دَ مسلم لیګ په اجلاس کښے ډیره یادګاری فکر راپاروونکے اَو دَ دَلیل نه ډکه دَ صدارت خطبه اُولوستله - چه په کښے ئے دَ هندوستان دَ نوی دور په حقله پُوره په تفصیل سره په ټولو مسئلو خبرے اوکړے - په عمومی ډول به اقبالؒ ته دَ تصور پرست په نظر کتلے شول - ولے دُوئ دَ اله آباد په خطبه کښے څُنے ډیر اهم پاخهٔ اَو دَ عمل کولو جوګه تجویزونه پیش کړل - دَ دے خطبے دَ ټولو نه اهمه خبره داوه چه په دے کښے اقبالؒ دَ هندوستان دَ مسلمانانو دپاره یو منزل اوټاکلو اَو دا منزل وو، دَ هندوستان دَ مسلمانانو دپاره دَ یو متحده اسلامی ریاست جوړول ــــ هغوئ اووے

"زما خواهش دے چه پنجاب، صوبه سرحد، سنده اَو بلوچستان دِ په یو ریاست کښے یو ځائے کړے شی - خواه دا ریاست دَ برطانیے دَ حکومت دَ ننه دَ خپل واکئ حاصلول غواړی، یا تر بهر، ما ته نو دا په نظر راځی چه آخر به دَ قطبی لویدیز هندوستان مسلمانان یو منظم اسلامی ریاست جوړوی -"

علامه اقبالؒ وړاندے اووئیل چه۔

"ځکه خو زهٔ په دے موقعه دَ هندوستان اَو اسلام دَ ګوره مفادو له خاطره دَ یو منظم اسلامی ریاست دَ جوړولو مطالبه کوم۔"

لس کاله پس دَ اقبالؒ دغه تجویز دَ پاکستان دَ مطالبے بنیاد اوګرزیدلو - دغه شان په براعظم کوچی کښے دَ مسلمانانو دپاره دیو جدا ملک دَ جوړولو دَ تصور عزت اقبالؒ ته حاصل شهٔ۔

تر راتلونکو دریو کالو پورے (۱۹۳۰ - ۱۹۳۲ء) پرله پسے په لندن

کښې ګول میز کانفرنسونه اوشول - چه په کښې د هندوستان په دستور کښې د ممکنې تبدیلۍ او د هغې په اصولو بحث مباحثې اوشوې چه د هغې په بنیاد د مستقبل دستور تیارووُنکے وو - اقبالؒ په ۱۹۳۱ء کښې دوئم ګول کانفرنس ته او په نومبر ۱۹۳۲ء کښې دریم ګول میز کانفرنس ته اوبلے شو - ولے د رائے د اختلاف په وجه په دریم ګول میز کانفرنس کښې هغوئ تش په نوم ګډون اوکړو - خو د دے موقع نه هغوئ فائده واخسته او د یورپ دوره ئے ترخلورو میاشتو پورے اوکړه - په دے دوره کښې هغوئ د عالمانو، فاضلانو او سیاسی مشرانو سره لیدل کتل اوکړل - د هغوئ سره ئے د دُنیا په سیاسی، مذهبی، ثقافتی او معاشرتی مسئلو خبرے اترے اوکړے هغه فرانس، سپین او اټلی ته لاړ - په خصوصی دول ئے په سپین کښې د عربو یادګارونه اوکتل د کومو نه چه د مسلمانانو د تیر وخت د عظمت او جلال څرګندیدنه کیده - هغوئ د سپین د قرطبې په جماعت کښې د شکر نمونځ اوکړو کوم چه په ۱۲۳۶ء کښې د نصرانی فوځونو د لاسه د قرطبې د ماتې خوړلو نه روستو د عیسایانو ګرجه کړے شوے وو - دلته د مسلمانانو زوال او هغوئ ته ورپیښو مسئلو تصور، اقبالؒ خفه او ژړوونکے کړو - هغوئ د یو نظم په شکل کښې د خپلو جذباتو اظهار اوکړو - دا نظم وو "مسجد قرطبه" چه په کښې اقبالؒ د مسلمانانو موجوده حالت د یو انقلاب په شکل کښې بدلولو د پاره د پرله پسے کوشش، جوش او ولولے او حرکت و عمل په ضرورت زور ورکړے وو - هغوئ وئے چه

جس میں نہ ہو انقلاب، موت ہے وہ زندگی
روحِ اُمم کی حیات کشمکشِ انقلاب

ترجمه:- چه انقلاب په کښې نه وی هغه ژوند مرګ دے
د اُمت د روح ژوند کوشش او انقلاب ته وائی

د علامه اقبالؒ په شاعرۍ کښې دے نظم ته د یر زیات خصوصیت او یو خاص امتیازی حیثیت حاصل دے -

دَ ۱۹۲۹ء اَوْ ۱۹۳۲ء په دوران کښے اقبالؒ دَ آل انډیا مسلم کانفرنس سره تعلق لرلو - دا کانفرنس دَ هندوستان په راتلونکی دستور کښے دَ مسلمانانو دَ مطالبو دَ منظورولو دپاره قائم کړے شوے وو - هغوئ په ۱۹۳۲ء کښے دَ مسلم کانفرنس صدر اوټاکلے شول - چه کالینه جلسه ئے په لاهور کښے اوشوه - په خپله صدارتی خطبه کښے هغوئ قوم ته دَ سیاسی اړې کړې دپاره یو څو بنیادی اصول وړاندے کړل اَوْ وے وئیل چه که چرے مسلمانان په هندوستان کښے دَ عزت ژوند تیرول غواړی ، نو خپل ځانونه به دَ قربانئ ورکولو دپاره تیار روی - دا وینا هغوئ دَ یو نظم "دریوزهٔ خلافت" دَ غبرگ برکت وو - دا نظم هغوئ په هندوستان کښے دَ خلافت دَ تحریک (۱۹۲۰ء - ۲۲) په دوران کښے وئیلے وو -

نہیں تجھ کو تاریخ سے آگہی کیا ؟
خلافت کی کرنے لگا تو گدائی !
خریدیں نہ ہم جس کو اپنے لہو سے
مسلماں کو ہے ننگ وہ پادشائی !

ترجمه:- آیا تهٔ دَ تاریخ نه خبر نهٔ ئے څهٔ ؟
چه تهٔ دَ خلافت خیر غواړے (یعنی په سوال خلافت غواړے)
هر څهٔ چه مُونږ په خپله وینه وانخلو
دَ مسلمان دپاره هغه بادشاهی دَ شرم خبره ده

هر کله چه اقبالؒ مسلمانان دَ قربانئ دپاره راپارول ، نو هغه وخت دوئ خپلو اوریدونکو ته خبردارے ورکړو چه هغوئ دَ خپل تاریخ دَ تیرولو نه په بد دوره کښے ژوند تیروی ، نو ځکه خو به لا خپل قومی فرض پوره کوی اَوْ یا به دَ تباهئ اَوْ بربادئ دپاره تیاری کوی - په دغه زمانه کښے تر څو کاله پورے اقبالؒ دَ پنجاب مسلم لیگ صدر پاتے شو - دَ قائد اعظم سره دَ دوئ اول ملاقات په ۱۹۲۸ء کښے شوے وو - بیا چه په ۱۹۳۱ء کښے دے دواړو مشرانو په دریم گول میز کانفرنس کښے گډون کولو ، نو دے دواړو مشرانو په خیالاتو کښے یو خاص شان یو والے محسوس کیدلو ځکه خو دوئ یو بل ته ډیر ورنژدے شول اَوْ خواږهٔ دوستان جوړ شول - ۱۹۳۰ء په میانځ کښے اقبالؒ دَ قائد اعظم دَ هغه تولو سرگرمو پوره پوره

تائید اوکړو کوم چه هغهٔ د مسلمانانو د راغونډولو او د مسلم لیګ په پوخ بنیاد د نوی سره منظم کولو کار کولو. بیا د ۱۹۳۱ء او ۱۹۳۷ء په دوران کښے اقبال" د قائداعظم سره پرله پسے خط وکتابت اوکړو چه په کښے ئے د مسئلو په حقله تجویزونه وړاندے کړل. علامه اقبال" د مسلمانانو د غریبئ په مسئله ډیر زیات فکرمن وو او د زړهٔ د اخلاصه ئے د دے خبرے د حل کولو خواهش لرلو. د زیات فکر نه پس هغه دے نتیجے ته اورسیدلو چه د شریعت په نفاذ به د مسلمانانو غریبي لرے کړے شي. هم دغه تجویز دوئ په خپل یو خط کښے قائداعظم ته په ۲۸ رمئ ۱۹۳۷ کښے پیش کړو د اقبال" خیال وو چه په هندوستان کښے هندوان د خپلے آبادئ په وجه ډیر اکثریت لری. او هرکله چه هندوستان آزاد شی، نو هغوئ به واکمن شی او بیا به د هندوستان په آئنده آئین کښے د شریعت نافذول ګران شی. بیاهم په قطبی قبلیځ او قطبی نمرختیځ هندوستان کښے ځنے علاقے (د مثال په توګه پنجاب، صوبه سرحد، بلوچستان او سندھ په قبله او بنګال په قطبی نمرختیز هندوستان کښے) داسے دی، چرته چه مسلمانان په اکثریت کښے دی. ځکه خو که دغه علاقے چه مسلمانان په کښے زیات دی، یو ځائے شی او جدا ریاست ترجوړ کړے شي. نو بیا به د شریعت نفاذ ممکن شی. ځکه نو اقبال" د قائداعظم په نوم په خپل خط کښے په هندوستان کښے د یو جدا اسلامی ریاست د جوړولو دلیل پیش کړو. دغه شان اقبال" ورو ورو قائداعظم دے خبرے ته تیار کړو چه هغه په هندوستان کښے د مسلمانانو دپاره د یو جدا مسلم ریاست د جوړولو په مطالبه غور اوکړی. نتیجه ئے دا شوه چه د وخت په راتلو قائداعظم په مارچ سنه ۱۹۴۰ء کښے د مسلم لیګ په کالنیز اجلاس کښے د دغه شان ریاست د جوړولو مطالبه د یو قرارداد په شکل کښے اوکړه او دغه مطالبه د هندوستان د مسلمانانو د منزل مقصود شو. د دے قرارداد د منظورئ نه پس قائداعظم مطلوب الحسن سید

ځوک چه د دوئ سیکرټری وو اؤ په اجلاس کښے شامل وو، اووے

"سره د دے چه اقبال" ژمونږ په مینځ کښے نشته، ولے که هغه ژوند ے وے نو په دے خبره به زیات خوشحاله شوے ووچه آخر مونږ هغه څه اوکړل چه ده غوښتل ."

دلته دا خبره د ذکر وړ ده چه کوم مسلم لیگ اجلاس په "منټو پارک" کښے شوے وو. کوم چه د اقبال" د مزار سره ډیر نزدے دے. چرته چه د پاکستان قرارداد منظور شوے وو. د دے مقام د یادګار جوړولو دپاره دلته په ۱۹۶۹ء کښے "مینارِ پاکستان" جوړ کړے شو چه لیدو ته ئے د لرے لرے نه هر ورځ په زرګونو خلق راځی.

د جُدا وطن د جوړیدو د ډیر سخت ضرورت نه علاوه چه کومه خبره د اقبال" د خطونو نه ځرګندیږی، هغه د دوئ د قائد اعظم په ذات پوره پوره اعتماد او یقین دے. د ۱۱ جون ۱۹۳۷ء په یو خط کښے اقبال" په صفا ټکو کښے قائد اعظم ته داسے لیکلی دی "نن په هندوستان کښے ته یکی یو مسلمان ئے چه قوم درنه دا توقع لری چه په هندوستان کوم طوفان لا تلونکے دے، په دے کښے به ته د قوم صحیح لارښودنه اوکړے ." په یوه بله موقع علامه اقبال" جناح ته اولیکل چه "د هندوستان د مسلمانانو دا توقع ده چه په داسے نازکه موقعه به ستا یوهه د موجوده مشکلاتو نه د خلاصی لار راپیدا کړی ."

دا د مسلمانانو خوش قسمتی وه چه قائد اعظم د علامه اقبال" په اُمیدونو پوره پوره اوختو. اؤ هغوئ د اقبال په تجویز کړو مقصدونو کار شروع کړو. هغوئ مسلمانان را غونډ کړل اؤ د هندوستان په سیاست کښے ئے یو داسے قوت ترِ جوړ کړو چه هیڅوک ئے اوس کړانه خبره وه. اؤ آخر په ۱۹۴۷ء کښے ئے پاکستان حاصل کړو. دغه شان په دا خبره بے ځایه نه وی چه د پاکستان د جوړیدو په لړ کښے اقبال" د عمل جوګه تصور وړاندے کړو. اؤ قائد اعظم تِرِ حقیقت جوړ کړو. د دے دواړو مشرانو په کوشش اؤ د عام مسلمانانو

په اتفاق دَ لوئے خدائے په فضل دَ یو نوی اسلامی ملک بنیاد اولګیدو.

دَ اقبال پیغام

په اردو اَوْ هندوستانی فارسی ادب کښے دَ اقبالؒ مقام ډیر اُوچت دے - په دوؤ ژبو کښے په یو وخت کښے دَ یو شاعر دومره مقبولیت نۀ خو څۀ معمولی خبره ده اَوْ نۀ غیر اهمه - دا یو منلے شوے حقیقت دے چه دَ اقبالؒ حیثیت به په اُردو اَوْ فارسی ادب کښے په تاریخی ډول تل اُوچت اَوْ لاثانی وی - پروفیسر آبهری وائی چه په "طورسینا" کښے یو څو شعرونه داسے دی چه دَ معنے اَوْ مطلب په اعتبار سره ډیر اُوچت اَوْ ښکلی دی - دغه شعرونه دَ فارسئ په نوی ادب کښے دَ شاه پارو په اول فهرست کښے شمارلی کیدے شی - ترڅو چه دَ اردو ژبے تعلق دے - دَ مرزا غالب نه پس اقبالؒ دَ دے صدئ دَ ټولو نه لوئے شاعر دے - اقبال سنګهـ څوک چه مسلمان نۀ دے دَ اقبالؒ په سوانح عمری کښے لیکلی دی چه دَ اقبالؒ دَ شاعرئ نه دَ خوند اخستو دپاره نۀ خو دا ضروری ده چه سړے دِ مسلمان وی او نۀ دَ تصوف سره دَ علمی تعلق څۀ ضرورت شته.

دَ اقبال سنګهـ دَ رائے سره زمونږ مکمل اتفاق دے - دَ علامه اقبالؒ په شاعرئ کښے دا خُوبی ځکه پیدا شوے ده چه هغوئ خیال صرف په فکری ډګر نۀ دے پیش کړے بلکه خیال ئے دَ احساس سره ترلے پیش کړے دے کوم څیز چه دَ حسن سره ترلے پیش کړے شی، په هغه کښے یو همه ګیر اَوْ عالمګیر اثر پیدا کیدل ضروری اَوْ فطری خبره ده -

دَ اقبالؒ پیغام دَ فکر اَوْ عمل دَ نوی ډګر سره دَ پیش ندګلو کول پیغام دے - هغوئ دَ چل دے پیغام دپاره قرآن اَوْ سنت بنیاد ګرزولے دے. اَوْ دَ قرآن دَ تعلیم دَ پوهے په لړ کښے ئے دَ اسلامی مِلّت دَ موجوده دوئے تجزیه

کړے ده اَوُ یو څو اهمے ټکتے ئے وړاندے کړے دی - مثلاً دَ علامه اقبال"
په خیال کښے اِسلام په اجتهاد ډیر زور ورکوی - اَوُ دَ اجتهاد دپاره
ضروری اصول هم وړاندےکوی - دَ اجتهاد اُصول دا خبره په ګوته کوی چه
په اسلام کښے په ځائے ولاړ روایت هډو تصوّر نشته یعنی دَ بدلیدُونکی
حالاتو له کبله دَ اسلامی اجتهاد دَ اصولو په رڼړا کښے په روایت کښے
تبدیلی اَوُ زیاتوالے دَ معاشرے دَصحت دپاره ضروری شرط دے - خو دا تبدیلی
اَوُ زیاتوالے به دَ اسلام دَبنیادی عقیدو اَوُ د قرآن پاک دَ ورکړو رهنما
اصولو سره چرے ډغره نهٔ خوری -

دویمه خبره چه علامه اقبال" خاص زور پرِ ورکړے دے - هغه دَ
انسانی صلاحیتونو پوهه ده - انسانی معرفت ته هغوئی دَ خودی نُوم
ورکړے دے اَوُ وئیلی ئے دی چه دَ قرآن پاک مطابق الله تعالےٰ په بنیادم
کښے خپل رُوح وړواچولو او دے ئے په دے مزکه خپل خلیفه جوړ کړو اَوُ
راوائے ستولو - بیائے په مزکه دَخپل خلیفه دَپاره ټول کائنات تابع کړو.
دَ تابع کولو دَ دے عمل په حقله ئے هدایت ورته اوکړو چه هغه ډِ په کائنات
غور اوکړی - یعنی په کائنات کښے چه کوُم فطری قانُونُونه جاری دی، په هغے
ډِ ځان خبر کړی - دَ فطرت دَ قانُونُونو پوهه دَ فطرت دَ تسخیر سبب جوړیږی
دے عمل ته سائنس هم وائی، ځکه خو دَ سائنس علم حاصلول دَ اسلامی تعلیماتو
عین مطابق کار دے -

دَ علامه اقبال" دَپیغام دَ ټولو نه اهمه برخه دَ عمل دعوت دے،
بنیادم ته په کار نهٔ دی چه هم دغه شان بے کاره کښینی اَوُ هیڅ کار نهٔ
کوی ځکه چه الله تعالےٰ په قرآن کښے وئیلی دی چه دانسان دپاره هغه څهٔ
دی چه دَځهٔ دے کوشش کوی - کوشش کول عمل دے او دَ الله تعالیٰ
دَ ارشاد مطابق دانسان عمل دُهغهٔ تقدیر دے -

علامه اقبال" فرمائی -

عمل سے زندگی بنتی ہے جنت بھی جہنم بھی
یہ خاکی اپنی فطرت میں نہ نوری ہے نہ ناری ہے

ترجمه : دَ عمل نه ژوندون جوړیږی ، جنت وی که دوزخ دا دَ خاورو خټے په خپله نهٔ نوری دَ اَو نهٔ ناری.

دَ ځنے خلقو خیال دے چه که چرے اقبال" خپل ټول نظمونه په اُردو کښے وئیلی وے نو دے به یو غوره شاعر ثابت شوے وو. وَلے دَ اقبال" په خیال کښے ژبه صرف دَ اظهار یوه ذریعه وه. اقبال" په فارسئ کښے لیکل ځکه شروع کړل چه هغوئ دا خبره محسوسه کړی وه چه هغه خپل خیالات، تصورات اَوْ نظریات په فارسئ کښے په غوره توګه پیش کولے شی اَوْ په آسانئ سره. بله دا چه په فارسئ کښے دَ کلام دَ وئیلو په برکت دَ هغه پیغام دَ دُنیا دَ مسلمانانو یوے ډیرے لوئے برخے ته رسیدلے شو. دغه خلق تش په اُردو کښے دَ شعر وئیلو په وجه دَ دوئ دَوس نه بهر وو. هغوئ غوښتل چه دَ هغوئ شاعری په ټوله اسلامی دُنیا کښے اولوستے شی. تش دا دَ هندوستانی مسلمانانو پورے محدوده پاتے نشی.

اقبال" په خپلو خیالاتو اوْ تصوراتو کښے درجه په درجه دَ ترقئ سره دَ خپلے شاعرئ په مقصدونو کښے هم تبدیلی پیدا کړه. وَلے یو مقصد دا سے وو چه دے پرے تل ولاړ وو. او دا مقصد وو دَ انصاف دَ تقاضو دَ پوره کولو دپاره پرله پسے کوشش. اقبال" دَ هر قسمه بے انصافئ نه کرکه کوله. اول هغهٔ په هندوستان کښے دَ کیدُونکے بے انصافئ خلاف ولاړ وو، بیا هغوئ دَ اسلامی دُنیا سره دَ کیدُونکو بے انصافو خلاف دَ احتجاج بیرغ اُوچت کړو. څو چه وخت تیریدو دَ هغوئ دا کوشش دَ عامو انسانانو دپاره یعنی دَ ټولو ملکونو دَ روستوپاتے خلقو دَ حق دَپاره دَ جنګ صورت اختیار کړو. په دے لړ کښے دَ هغوئ دَ ټولو نه اهم نظم هغه دے چه په کښے هغوئ دَ عام سړی ذوروره پره کړے ده چه سرخط ئے دے " فرمانِ خدا (فرشتوته)"

اٹھو میری دنیا کے غریبوں کو جگا دو
کاخِ اُمرا کے در و دیوار ہلا دو

ترجمه:- پاڅئ! زما په دُنیا کښے غریبان راویښ کړئ دَ امیرانو دَ ماڼو دیوالونه اوړکوی

گرماؤ غلاموں کا لہو سوزِ یقیں سے
کنجشکِ فرومایہ کو شاہیں سے لڑا دو
سلطانیٔ جمہور کا آتا ہے زمانہ
جو نقشِ کہن تم کو نظر آئے مٹا دو
جس کھیت سے دہقاں کو میسر نہ ہو روزی
اس کھیت کے ہر خوشۂ گندم کو جلا دو
کیوں خالق و مخلوق میں حائل ہیں پردے
پیرانِ کلیسا کو کلیسا سے اٹھا دو
حق را بسجودے، صنماں را بطوافے
بہتر ہے چراغِ حرم و دیر بجھا دو
میں ناخوش و بیزار ہوں مرمر کی سلوں سے
میرے لئے مٹی کا حرم اور بنا دو
تہذیبِ نوی کارگہِ شیشہ گراں ہے
آدابِ جنوں شاعرِ مشرق کو سکھا دو

دَ غلامانو وینه دَ یقین په سوز گرمه کړئ
ورکوټي شان چڼچڼه دَ باز سره اوجنګوئ
دَ عوامو دَ بادشاهئ وخت راروان دے
زاړهٔ نښانونه چه چرته وینئ هغه ړنګ کړئ
دَ کوم پټي نه چه دهقان ته روزی په لاس نهٔ ورځي
دَ هغه پټي دَ غنم هر یو وږے اوسوزوئ
دَ خالق اوٌ مخلوق په مینځ کښے پردے ولے راپریوځي
دَ ګرجے پیران دَ ګرجے نه پاځوئ
چه حق ته په سجده پروت وئ اوٌ دَ بتانو طواف کوی
نو داغوره ده چه دَ حرم اوٌ بت خانے ډیوے مړے کړئ
زهٔ دَ مرمرو دَ سلونو نه ناخوښ اوٌ ویزار یم
زما دپاره دَ خټو بل حرم جوړ کړئ
دا نوے تهذیب دَ شیشه سازو کار دے
دَ مشرق شاعر ته دَ لیونتوب آداب اوښایئ

اقبالؒ یو ډیر رښتونے، حساس اوٌ درد من مسلمان وو۔ دَ دے صدئ په اوله عشره کښے چه په مسلمانانو کوم دَ غم غرونه غرځیدلے وو، هغے اقبالؒ ډیر زیات متأثر کړے وو۔ ولے دَ دے نه هم زیات درد چه کوم څیز ورسوے وو هغه دا وو چه دَ دُنیا په مختلفو علاقو کښے مسلمانانو ځانونه دَ قوم پرستئ په څادر کښے پټ کړی وُو۔ خپل ځانونه ئے دَ نسل اوٌ وطن په بنیاد سره راټول کړی وُو۔ اقبالؒ ډیر زر په دا خبره پوهه شو چه دغه عمل به دَ دُنیا مسلمانان په جُدا جُدا ډلو کښے سره اوویشی۔ دا خبره دَ اقبالؒ دَ فکر اوٌ فلسفے نه بخلافه وه۔ ځکه خو هغوئ مسلمانانو ته زور نه اوکړه اوٌ وئے وئیل چه مسلمانی دَ رنګ، نسل اوٌ ملک په بنیاد نه، بلکه دَ خپل روحانی تړون په بنیاد ځانونه منظم کړی۔ دَ اقبالؒ وینا وه چه یواځے دغه شان

خپل ځانونه د یو سوچه ملت حصه ثابت کړی شي - ورسره به خپل تقدیر هم جوړ کړے شي -

نه افغانیم و نے ترک و تتاریم	ترجمه: نهٔ افغان یم نهٔ ترک او نهٔ تاتار یم
چمن زادیم و از یک شاخساریم	د چمن نه پیدا د یوے څانګے نه راغلے یم
تمیز رنگ و بو بر ما حرام است	په مادرنګ ونسل تمیز حرام دے
که ما پروردهٔ یک نوبهاریم!	چه زهٔ د یکی یو بهار نه راپیدا شوے یم

د "رموزِ بے خودی" نه پس د اقبال" د فارسی دویمه مجموعه "پیامِ مشرق" چاپ شوه - دا مجموعه په ۱۹۲۳ء کښے چاپ شوے وه اؤ د دے مجموعے اوله حصه یعنی "طورِ سینا" پروفیسر آربری په ۱۹۷۷ء کښے په انګریزئ کښے ترجمه کړه - په دا مجموعه کښے اقبال" د جرمنی لیکوالو اؤ شاعرانو د نمرختیز فکر اؤ شاعرئ د اثر لاندے پوره پوره بحث کړے دے - په ۱۹۲۷ء کښے اقبال" خپل د اردو کلام اول کتاب " بانګ درا "چاپ کړو - د دے کتاب نوم چه د عام دستور په شان نهٔ وو - دا خبره په ګوته کوی چه اقبال" د خپل کلام په ذریعه مسلمانان د سستئ غفلت اؤ جمود د دائرے نه راویستل اؤ فعال جوړول غوښتل - په هغوئ کښے ئے د بیدارئ یوه نوے جذبه راویښول غوښتل. د دوئ بے آسرے اؤ بے توښے کاروان ئے یو نوی صباؤن ته په لار نیغول غوښتل - ځکه خو هغوئ اؤ لیکل چه

(ترجمه)

اندھیری شب ہے جدا اپنے قافلے سے ہے تُو	توره شپه ده اؤ ته د خپلے قافلے نه جُدا ئے
ترے لئے ہے مرا شعلۂ نوا قندیل	ستا د پاره زما شعله ناک آوان ډیوه ده

د "بانګ درا" نه پس په ۱۹۲۷ء کښے "زبورِ عجم" چاپ شو - د دے د یو څو حصو ترجمه پروفیسر آربری (۱۹۰۵ - ۱۹۶۹ء) په انګریزئ کښے کړی

وه - دَ هغې نه پس "جاوید نامه" چاپ شوه دا کتاب دَ اقبال" ورکوټي زوئ جاوید اقبال په نوم پورې منسوب وو - دا اُوږد نظم دَ اقبال" په غوره شاعرئ کښې خلق حسابوي - دا دَ برطانوي شاعر جان ملټن (۱۶۰۸ - م۱۶۷۴ء) دَ مشهور نظم "پیراډائز لاسټ" په طرز لیکلے شوے دے - په دے نظم کښې دَ علامه اقبال" رُوح دَ مشهور فارسي شاعر جلال الدین رُومي (۱۲۰۷ - ۱۲۷۳ء) سَره دَ آسمانونو سیل کړے دے - دا نظم دَ دغه سیل قیصه اَوُ نقشه پیلے شي -

په دے وړخو کښې اقبال" په اُردو اَوُ فارسي دواړو ژبو کښې شعرونه ویَل اَوُ دوه مجموعے ئے چاپ شوے - اول "بالِ جبریل" په ۱۹۳۵ کښې اَوُ بیا "ضرب کلیم" په ۱۹۳۶ کښې - دا دواړه مجموعے دَ دغه خیالاتو، تصوراتو اوُ نظریاتو نمونے دی دَ کومو اظهار چه دده نه وړاندے اقبال" په فارسي کلام کښې کړے دے - په دے مجموعو کښې اقبال" دَ یو فعال ژوند تیرولو وینا کړې ده اَوُ په مسلمانانو ئے زور اچولے دے چه دَ غفلت دَ خوبه راپاڅي اَوُ ځانونه دَ یو برله پسے کوابنې دَ پاره تیار کړي - دَ اردو په دے دړے وارو مجموعو کښې ټن یو څو دَ څونړ نظمونو په انګریزئ کښې ترجمه کړے ده - کوم چه په ۱۹۴۷ء کښې په اول ځل اَوُ په ۱۹۵۵ء کښې په دویم واړ په انګلستان کښې چاپ شول - دَ هغې نه پس اقبال" په فارسئ کښې یوه لنډه شان مثنوي دَ "پس چه باید کرد اے اقوام شرق" دَ سرخط لاندے اولیکله - ددے نه علاوه هغوئ یو بل نظم "مسافر" هم په فارسئ کښې اولیکلو - دا نظم دُوئ دَ افغانستان دَ قیام په ورځو کښې لیکلے وو - په افغانستان کښې دَ قیام په دوران کښې هغوئ دَ سلطان محمود غزنوي او شهنشاه ظهیرالدین بابر په قبرونو حاضري اوکړه - دَ محمود غزنوي دَ تخت ځائے غزني په بربادئ او تباهئ ډیر اودرېدلو -

دَ هغوی نظم "مسافر" په اصل کښې دَ هغه تأثر نتیجه ده۔ په دے دواړو نظمونو کښې هغوئ په مشرق دَ مغرب په حمله بحث کړے دے۔ اَؤ مسلمانانو ته ئے دَ اسلام دَ بیرغ لاندے دَ راټولېدو ئے کیدلو غږ کړے دے۔ اَؤ وئیلی ئے دی چه دوئ دِ دَ اسلامی اصولو سره اِنصاف اوکړی اَؤ دا دِ خپل کړی۔

دَ اقبال دَ پاتے اُردو اَؤ فارسئ کلام دَ "ارمغان حجاز" په نوُم دَ هغوئ دَ مرګ نه پس چاپ شو۔ دَ اقبالؒ دا دُنیا ته آخری پیغام وو۔ دَ دے مجموعے په مختلفو نظمونو کښې اقبالؒ دَ سرورِ کائنات صلی اللہ علیہ وسلم تعلیم دَ خپرے سرخط جوړه کړے دے او دائے په ګوته کړی دی چه دا تعلیم دَ هدایت اَؤ لار ښودنے آخری ذریعه ده۔ په دے کښې دَ زمانے روُح کار کوی۔ که چرے مسلمانان دغه تعلیم په رښتیا معنو کښې دَ خپل ژوند بنیاد اوګرځوی، نو دَ ترقئ تولے لارے به په دوئ بیرته شی ورسره ورسره به دَ نورو قومونو دپاره یو نمونه اَؤ مثال اوګرځی۔

دَ شعر وئیلو سره سره به اقبالؒ په سماجی اَؤ سیاسی مسئلو هم روخت غور اَؤ فکر کولو۔ په ۱۹۲۸ء اَؤ ۱۹۲۹ء کښې هغوئ په مدراس، حیدرآباد (دکن) اَؤ دَ میسور په یونیورسٹیو کښې په اسلامی سرخطونو جُدا جُدا تقریرونه اوکړل۔ کوم چه په ۱۹۳۰ء کښې دَ "اسلام میں تشکیل جدید الٰهیه" دَ سرخط لاندے په کتابی شکل کښې چاپ شول۔ دا کتاب که یو خوا په نثر کښې دَ هغوئ دَ ټولونه لویه کارنامه ده نو بل خوا دا دَ اسلامی دُنیا دپاره یوه لویه حالئ وه۔ دَ اقبالؒ خیال وو چه دَ دے دور دَ مسلمانانو دپاره چه دَ ټولو نه اهمه اَؤ لویه مرحله ده هغه دا ده چه دَ تیر وخت سره خپل تعلق پرے نهٔ کړی اَؤ دَ اِسلامی نظام دَ نوی سره جاج واخلی۔ دا ښهٔ کار اقبالؒ چله په دے بیان شوو خطبو کښې دَ ترسره کولو کوشش کړے دے۔ په دے خطبو کښې اقبالؒ دَ دلیل سره دا وئیلی دی چه څنګه هغوئ رښتینی مسلمان پاتے کیدے شی اَؤ دَ نوی سائنس اَؤ نورو علمونو نه

فائده اوچتولے شو ۔ هغوئ دا هم اووے چه اسلام ځنګه د نورو علمونو ، فنونو او په سائنس د قابو مونډلو حوصله افزائی کوی ۔ دغه شان اقبال مسلمانان اسلام ته د رانزدے کولو او په اسلام د هغوئ د ایمان او یقین مضبوطولو په لړکښے ډیر د ستائنے وړ کار اوکړو ۔ هغوئ د مسلمانانو په وړاندے د ژوند یوه فلسفه کیښوده چه په هغه دوئ په آسانئ سره عمل کولے شو ۔ ځکه خو امیر شکیب ارسلان وائی چه په تیرو زرو کالونو کښے چه اسلام کوم مفکرین پیدا کړی دی ، په هغوئ کښے د اقبال مقام د ټولو نه اوچت دے ۔ ځکه خو په دے خبره کښے د حیرانئ هیڅ نشته چه د هغوئ خطاب د شروع نه د هندوستان او د هندوستان نه بهر د عالمانو ، فاضلانو او مفکرانو د توجه مرکز ، د بحث موضوع او د ستائنے وړ ثابت شوے وو ۔ دغه وجه وه چه اقبال ته د اکسفورډ یونیورسټئ له خوا د دوو لیکچرو په حیث بلنه راغله وه اقبال د خپلے بیمارئ په وجه دا دعوت قبول نه کړے شو ۔

د اقبال آخری ورځے

اقبال په فروری ۱۹۳۲ء کښے د یورپ نه بیرته راغے او د دے نه اووه میاشتے روستو هغه د افغانستان بادشاه نادر شاه په بلنه افغانستان ته لاړو ۔ په دے سفر کښے مولانا سید سلیمان ندوی (۱۸۸۴ء - ۱۹۵۳ء) او سید راس مسعود (۱۸۸۹ - ۱۹۳۷ء) د هغوئ ملګری وو ۔ مولانا سید سلیمان ندوی یو مشهور دینی عالم د تاریخ دان مولانا شبلی نعمانی (۱۸۵۷ - ۱۹۱۴ء) په ځائے ناست او د اعظم ګړه د دار المصنفین مهتمم وو ۔ بل خوا سید راس مسعود هغه وخت د علی ګړه مسلم یونیورسټئ وائس چانسلر او د سر سید احمد خان (۱۸۱۷ - ۱۸۹۸ء) نمسے وو ۔ نادر شاه دا د تعلیم ماهران د دے دپاره افغانستان ته رابللی وو چه هغوئ د افغانستان

دَ جوړولو په لړ کښې مشوره ورکړې . ورسره ورسره په افغانستان کښې
دَ اعلیٰ تعلیم دَ پرمختګ دپاره داسې منصوبه پیشه کړې چه دَ اسلامي
اقدارو سره سره دَ غوره مغربي تعلیم په شان وي .

دَ افغانستان دَ دورې په ورځو کښې اقبالؒ غزني ته هم لاړ . کوم
چه په یو وخت کښې د سلطان محمود غزنوي (۹۷۱ - ۱۰۳۰ء) دَ تخت ځائے
وو . ولې هغه ښځې وران ویجاړ پروت وو . دلته داخبره دِ فکر وړ ده
چه سلطان محمود غزنوي څوک چه دَ غزني والي وو، هغهٔ په هندوستان
اوولس حملې کړې وے، په هره حمله کښې ئے راجګانو ته ماتې ورکړې وه.
دَ ۱۰۰۱ نه تر ۱۰۲۷ء پورې دَ محمود غزنوي دَ حملو په هندوستان کښې
هرخوا خبرې کیدې . په دې حملو کښې که یو خوا هغهٔ په وسطي هند کښې
قنوج اؤ متهرې ته اورسیدو، کوم چه دَ هندوانو ډیر اهم مرکزونه وو،
نو بل خوا هغهٔ دَ مغربي هندوستان په ګجرات ښار کښې جوړ دَ هندوانو سومنات
درمسال کښې لوټې سره بیلې کړې . البته محمود غزنوي تش د پنجاب علاقه په
خپل حکومت کښې شامله کړه . په دې وجه هم دَ اقبالؒ تعلق دَ محمود غزنوي
سره دَ عقیدت حد ته تړلے شوے اؤ مضبوط وو . دَ سلطان محمود په زمانه
کښې غزني یو آباد اؤ مشهور ښار وو . ورسره د تهذیب اؤ تمدن ځانګو
هم وه . ولې اوس دَ هغهٔ دا مشهوري یوه زړه هیره قیصۍ وه . د هغهٔ
ښکلې محل اؤ ښکلې کوڅې او بازارونه اوس کنډرې پراتې وے . هرخوا یوه خاموشي
وه . اقبالؒ چه هرکله دا تماشه اولیدله نو دَ هغهٔ دردمن زړهٔ په ژړا شو.
هغه ډیر په تکلیف کښې پریوتو . په ذهن ئے ځهٔ داسې خیال اوشو چه بیان
ئے نشي کیدې . دَ دې خبرې اظهار هغوئ په خپل نظم " مسافر " کښې کړے
دے . په دې نظم کښې اقبالؒ خدائے پاک ته خواست کړے دے چه مسلمانان
د دې تکلیف اؤ مصیبت نه خلاص کړي . یوا ځې دا نه بلکه اقبالؒ په دې نظم کښې دَ
مسلمانانو موجوده بد حال اؤ بربادئ ذکر هم کړے دے اؤ دا ئے ویلي دي چه دا
هرڅهٔ ځکه اوشول چه دَ مسلمانانو ته دَ ژوند هغه ولوله هیره شوې ده . اؤ

هغوئ دَ خپلو اقدامو نه فخر اړولے دے ۔ اقبالؒ چه دَ سلطان محمود غزنوی اَوْ دَ مغلو دَ حکومت بانی سلطان ظهیرالدین بابر (۱۴۸۳ ۔ ۱۵۳۰ء) په قبرونو حاضری ورکړه نو هلته ئے هُم دَدے قسمه جذباتو مظاهره اوکړه ۔ ولے په دے خبره ئے تسله اوشوه اَوْ دیر زیات خوشحاله شو چه افغانان لا تر اوسه دَ خپلے آزادئ دَ قدر اَوْ قیمت نه خبر دی ۔

دَ افغانستان نه په واپسئ دَ اقبالؒ صحت په پریوتو شو ۔ اول ځل اقبالؒ په ۱۹۲۴ء کښے سخت رنځور شوے وو ۔ چه دَ پښتورګو دَ درد بیماری پرې بګیدلے وه ۔ هغه وخت دَ دَهٔ علاج دَ دهلی مشهور حکیم نابینا کړے وو ۔ اَوْ دے جوړ شوے وو ۔ دَ هغے نه پس ترلس کاله پورے دَ اقبالؒ صحت ښهٔ پاتے شو ۔ ولے په ۱۹۳۴ء کښے دَ مرئ په تکلیف کښے راګیر شو اَوْ خبرے کول ورته ګران شول ۔ دا مرض دومره زیات شو چه دَ بجلئ دَ علاج باوجود هم اقبالؒ پوره صحت بیا نهٔ موندلو ۔ په ۱۹۳۵ء کښے په هغهٔ یوه دیره لویه واقعه راغله ۔ دا واقعه دَ هغوئ دَ درېم ټبر مرګ وو ۔ څوک چه دَ جاوید اَوْ میرې مور وه ۔ دَ ټبر دَ مرګ نه پس اقبالؒ دَ ژوند په آخری ورځو کښے یخی یواځے پاتے شو هغه په هر وخت خفا وو ۔ نو دَ پښتورګو هغه زړه بیماری بیا پر راغلـــه ۔ ورځ په ورځ ئے صحت په پریوتو شو ۔ ورسره ورسره ئے په سترګو دَ موتیا بیماری اونګیده اَوْ تر دیره حده ئے نظر کم شو ۔

سره دَ دے مصیبتونو اَوْ تکلیفونو اقبالؒ خپله مطالعه جاری اوساتله دۓ دَ هندوستان دَ مسلمانانو اَوْ اسلام دپاره هم هغه شان فکرمن وو ۔ دَ ساه لنډی حملے پرِ کیدلے خو بیا هم دوئ دَ خپلو خواخوږو او ملګرو سره اسلامی دُنیا ته دَ ورپیښو کشالو په باب کښے خبرے اترے کولے ۔ لکه څنګه چه وړاندے ذکر شوے دے چه په دے ورځو کښے دَ اقبالؒ دَ قائداعظم سره متعلقه رابطه وه ۔ هغوئ ته ئے پرله پسے خطونه لیکل چه دَ یو جُدا اسلامی ریاست جوړولو ته ئے راضی کړی ۔ دَ بیماری په ورځو کښے

دَ هغهٔ دَ پریشانئ سبب دَ مرګ راتلل نهٔ وُو. بلکه دَ اسلامی دُنیا حالات وُو، کوم چه ورځ په ورځ خرابیدل. اقبالؒ دَ راتلونکی وخت په حقله ډیر زیات پُر امیده نهٔ وو. دغه وجه وه چه کله نه کله به هغوئ مسلمانانو ته دَ راپیښیدو مسئلو ذکر کولو، نو ژړغونی به شول.

دَ مارچ ۱۹۳۸ء په آخر کښے دَ اقبالؒ بیماری زیاته شوه. ډیره بے کمزوری شو. سره دَ دے چه ډیرښه علاج ئے روان وو، خو دَ ۲۱ اپریل په نیمه شپه حق اورسید و. دُوئ بغیر دَ څهٔ تکلیف نه ناڅاپی ساه ورکړه. دَ ایس اے واحد دَ وینا مطابق هغه دَ مرګیدو نه روستو په چپله بستره ډیر په تسله اَوُ آرام سره پروت وو. داسے معلومیده چه لکه هغهٔ چل کار ختم کړے وی اَوُ ارام کوی.

دَ علامه اقبالؒ دَ مرګ نه یو څو ورځے اګاهو چه دَ هغهٔ ورور دَ دهٔ په بیمارئ څه افسوس ظاهر کړو نو اقبالؒ هغهٔ ته اووے چه "زهٔ مسلمان یم، ځکه خو دَ مرګ نه نهٔ ویریږم" په حقیقت کښے اقبالؒ ته د مرګ نه ویریدل په کار هم نهٔ وو ځکه چه هغه دَ همیشه په ژوند پُوره یقین لرلو. دَ هغوئ وینا وه.

موت کو سمجھاہے غافل اختتامِ زندگی ترجمه: اے غافله! تا مرګ دَ ژوند خاتمه شمارلے دَه
ہے یہ شامِ زندگی، صبحِ دوامِ زندگی دا خو دَ ژوند ماښام دے اَوُ سحر دَ ژوند همیشوالے

دَ علامه اقبالؒ دَ مرګ خبر چه څنګه دَ لاهور ریډیو سټیشن نه واورولے شو نو دَ خلقو یو هجوم چه امیران، غریبان، تعلیم یافته، بے تعلیمه، زنانه اَوُ بچی پکښے شامل وُو. دَ علامه اقبالؒ دَ کور په خوا وُشا کښے راغونډ شول. اقبالؒ ته دَ پیش زویئے ورانده کولو دپاره سکولونه، کالجونه اَوُ عدالتونه ټول بند شول. دَ دوئ دَ جنازے په جلوس کښے اندازاً شپیته زره خلق شامل وُو. دَ ۲۱ اپریل په ماښام دَ بادشاهی جماعت په سوری کښے دَ هغوئ مړے لحد ته اوسپارلے شو. دغه شان علامه اقبالؒ

دَ هغه جماعت په خوا کښې بنځ کړے شو ، چرته چه به هغوئ ځېل دَ جذباتو نه ډک نظمونه ډېر په سوز اَؤ خوږ آواز اَؤ رول اَؤ په اَؤریدونکو به ژړا راتله - دا رښتیا دی چه هغه آواز اوس دَ همیشه دپاره خاموشه شوے وو، ولے هغه پیغام چه دے آواز عام کړے وو - هغه به تل ترتله نهٔ یواځے داچه دَ مسلمانانو زړونه بَه دَ عمل اَؤ حرکت دپاره تازه ساتی بلکه دیوے علمی اَؤ فکری کارنامے په حیث به تل ژوندے وی -

دَ علامه اقبال مرګ دَ ټول هندوستان دپاره یوه لویه سانحه وه - دَدے سانحے اطلاع نورو هغه ملکونو ته هم ډېره په خفه اَؤ غمجن زړګو ورسیده چرته چه دَ اقبال پیژندګلو دَ هغهٔ دَ شاعرئ اَؤ تعلیم په برکت شوی وه - سره دَدے چه هغه وخت کښے دَ هندوستان نه بهر اقبال دومره زیات مشهور نهٔ وو څومره چه نن دے - وَلے دَدے خبرے باوجود دَملک نه بهر هم خلقو هغوئ ته دَ عقیدت پیرزوینے وړاندے کړے -

په تیرو اووهٔ دیرش کالونو کښے دَ اقبال دَ شاعرئ په ډیرو ژبو کښے ترجمے شوی دی - دَ هغوئ په ژوند ، شاعرئ ، اَؤ فکر اَؤ فن په ډیرو ژبو کښے کتابونه لیکلی شوی دی چه دَ هغے نه دَ اقبال دَ زیات مقبولیت اندازه لګی -

لکه څنګه چه وړاندے ذکر شوے دے چه دَ اقبال وړاندے کړے تصوّر چه په هندوستان کښے دَیو جُدا اسلامی ملک وی ، په مارچ ۱۹۴۰ء کښے دَ مسلم لیګ اَؤ دَ هندوستان په مسلمانانو کښے یو آخری نصب العین جوړ شو - علامه نهٔ یواځے دا تصور وړاندے کړو بلکه دَ خپلو کتابونو په ذریعه ئے دَدے تصور په رڼا کښے دَ هندوستان په مسلمانانو کښے دَیو جُدا ملک دَ حاصلولو دپاره ولوله پیدا کړے وه - اوس دَ ئے دَ پاکستان دَ قومی شاعر په توګه یادیږی -

دَ علامه اقبال دَ مرګ نه تقریباً اتهٔ کاله پس دَ هغوئ په قبر

دَ يوے مقبرے دَ جوړولو دَ تجويز منصوبه جوړه کړے شوه ۔ زين يار جنګ څوک چه دَ حيدر آباد دکن يو نامتو دَ تعميراتو ماهر وو ۔ په اول سر کښے ئے دَ مقبرے ماډل جوړ کړو، کوم چه دَ اقبالؒ دَ مقبرے کميټئ پاس کړو. افغانستان دَ علامه اقبالؒ سره دَ عقيدت دَ اظهار په توګه دَ مقبرے دپاره سنګ مرمر راواستول اَؤ ډير زر دَ اقبالؒ په قبر يوه ساده وے دَ تقدس نه ډکه مقبره جوړه کړے شوه ۔ دَ مقبرے په تندړه دَ اقبالؒ هغه قطعه ليک ده چه اوله مصرعه ئے ده ۔

نه افغانيم و نے ترک و تتاريم

ترجمه:۔ نهٔ افغان يم، نهٔ ترک يم اَو نهٔ تاتار يم

سره دَ دے چه دَ ۱۹۲۰ء په عشره کښے اقبالؒ يو عالمګير شهرت حاصل کړے وو ۔ وے بيا هم هغهٔ دَ هر قسمه تکلف نه جُدا يو ژوند دَ تيرولو عادی شوے وو ۔ دَ هغوئ ضرورتونه په شمار وُو ۔ صِرف دَ هغوئ دَ ژوند حصّه جوړ شوے وو ۔ ځکه خو هغوئ دَ خپل خاندان دَ بنيادی ضرورتونو تر پوره کولو پورے خيال ساتلو ۔ اَؤ په دے خوشحاله وو ۔ په ۱۹۳۱ء کښے هغوئ وکالت ځکه پريښو چه هغه خپل ټول وخت يک لوست اَؤ دَ کتابونو جوړولو اَؤ چاپ کولو ته وقف کړی ۔ يعنی هغوئ دَ آرام په لټون کښے دَ خپل فکر پرواز په هيڅ وجه کمولو ته تيار نهٔ وُو ۔ په ۱۹۳۵ء کښے دَ بهوپال نواب ورته پنځه سوه روپئ دَ مياشتے وظيفه مقرره کړه چه دَ ژوند آخری ورځے په آرام تيرے کړی ۔

سره دَ دے چه دَ ۱۹۲۰ء نه دَ اقبالؒ نوم دَ هندوستان په مشهورو يو څو خلقو کښے شماريدو، وے بيا هم دَ هغوئ وربه دَ هر چا دپاره هر وخت خلاص وو ۔ په جوش اَؤ بغير دَ څهٔ تصنّع نه دَ هر چا سره ملاويدل دَ هغهٔ عادت وو ۔ دَ اسلامی روايت مطابق به ئے دَ ميلمستيا حق ترڅله وسه پوره کولو، بنهٔ خوراک ئے خوښ وو ۔ دَ قطبی هندوستان دَ نورو مسلمانانو په شان ئے پلاؤ اَؤ سيخ کباب ډير خوښ وُو ۔ لږه مالګه اَؤ بغير دَ پيو چائے به ئے ډيرے څښلے ۔ په ګرمئ کښے به

علامه اقبال به ځېل کټ په باغ کښې واچولو - اؤ اکثر به ئې پنجابي لباس اغوستے وو - ځکه چه په عام حالاتو کښې دا جامې ډېرې ارام رسوونکې وي - د ده د کټ نه ګېرچاپېر به کرسئ پرتے وې - چه دده ملګري اؤ ملاقاتيان به پرې ناست وُو - په ځنئ کښې به دغه شان انتظام د هغه د کور دننه کېدو، چلم به هر وخت ورسره پروت وو -

د علامه اقبال" ليدو اؤ د هغهٔ سره ملاويدو ته به د هغهٔ خواخوږي د لوے لرے ځايونو نه راتلل - دغه سلسله به هر وخت جاري وه - د علامه اقبال" خبرے ډېرے خوږے وے ځکه خو به دا ملاقاتونه هم ډېر دلچسپ وُو. اقبال" يوښهٔ اؤريدونکے هم وو - د هغهٔ سره ناستے به د خلقو ډېر خوښ وو - د اقبال" په محفل کښې به په مختلفو ارخونو خبرے کېدے - ولے د هغهٔ د ژوند په آخري ورځو کښې چه په کوم سرخط ډېرے خبرے کېدے - هغه وو اسلام اؤ د هغهٔ صباؤن". د اقبال" خبرے به فکر راپاروونکے وے. ولے کله به هغوئ په ځېلو خبرو کښې توقے ټقالے هم کولے چه محفل به پرې تازه کېدو -

علامه اقبال" يونيک اؤ مذهبي سړے وو - هم دغه صفتونه وُو چه هغوئ د ځېل پلار نه زده کړي وُو اؤ د هغوئ اُستاد سيد ميرحسن د سوري لاند سے نورزيات شوی وُو - د علامه اقبال" دا ايمان وو چه اسلام د دُنيا د زياتبهٔ کولو دپاره واحد نظام دے - ځکه خو اقبال" اسلامي روايات اؤ اُصول په ځېل امروزه ژوند کښې د ځېلولو ډېر کوشش کړے وو - هغهٔ به د خدائے د حکمونو پابندي په سختئ سره کوله اؤ په مونځ اودس کښې ئے د هيڅ قسم سستي نهٔ کوله - د قرآن شريف تلاوت به ئے تل کولو - هر کله چه د هغوئ نظر کمزورے شو - نو د نورو نه به ئے قرآن شريف اؤريدلو - واقعي چه داسے هيڅ کله نهٔ وُو شوي چه د قرآن شريف په اؤريدلو يا لوستلو د هغهٔ په سترګو کښې اوښکے نهٔ وي راغلے -

د علامه اقبال" ليک ډېر ښکلے وو - د هغے اندازه د هغه نمونے نه لګيدے شي کومه چه په دے کتاب کښې شامله ده - د هغهٔ سره به په مېز باندے

نوټ بُک اَؤ پنسل پراتهٔ وُو ۔ دَ دے دپاره چه دَ ضرورت په وخت شعرونه اوليکلے شی ۔ اقبال'' په زړګونو شعرونه ليکلی وُو ، په خصوصی توګه چه کله به آمد پرِرا تلو نو هغهٔ به په ګينټو ګينټو شعرونه ليکل ۔

دَ اقبال'' په ځِل ځان پورے باور وو ۔ هغه به په ذاتی تکليفونو اَوُ کړاوُ کله هم نهٔ خفا کيدلو، اَوُ هر وخت به ډير په تسله ناست وو ۔ هغویٔ چه په ځِل ژوند کښے کوُم ځرګند کارونه کړی دی ، دَهغو په باب کښے هم دَ دوئ دا يقين وو چه دَ هغویٔ دا کوششونه به دَ هندوستان دَ مسلمانانو دَ ترقئ اَوُ تيرو وړ ځو دَ بيا مُوندو په لړ کښے ډير بشهٔ لاس اوکړی ځکه چه مسلمانان دَ هغے په تلاش کښے دی ۔ دَمرګ نه نيمه ګينټه وړاندے هغویٔ دا قطعه اوليکله ۔

(ترجمه)

سرودِ رفته باز آید که ناید
نسیمے از حجاز آید که ناید
سر آمد روزگارِ این فقیرے
دگر دانائے راز آید که ناید

تيلے سرود به بيا راځی اَوُ کهٔ نه
دَ حجاز نه به دَ سحر باد راځی اَوُ کهٔ نه
دَ دے فقير دَ روزګار خاتمه راغله
خبر نهٔ يم چه بل دَ راز نه خبر به راځی اَوُ کهٔ نه

بل د راز نه خبر به راځی کهٔ نه ، وَلے هغه آواز چه هغه زړګونو بلکه لاکهونو خلق ژړولی وُو ، اَوُ هغویٔ ئے دَ ځِل موجُوده بد حالئ نه خبر کړی وُو ۔ دَهميشه دپاره خاموشه شو ۔ هغه زلمے شاعر چه دَ نو لسے صدئ دَ هغه يادګاری انجمن حمايت الاسلام دَ جلسے خلق ځان پلو راکښلی وُو هغه نن په ځِل آخری آرام ګاه کښے په تل عمری خوب اُوده دے ۔ وَلے دَ هغویٔ پيغام به تل تر تله اسلامی دُنيا ته دَ بيداری اَوُ پرله پسے کوشش اَوُ کوا ښی بلنه ورکوی هغه پيغام نن هم ژوندے دے اَوُ ژوندے به وی ۔

دا دے علامه اقبال'' څوک چه دَ يو شاعر اَوُ مفکر په حيث دَ

۱۹۲۰ء په عشره کښې راڅرګند شو ـ چاته چه قائد اعظم محمد علی جناح په دے تهکو کښې ځلے پیر زوینے وړاندے کړے ـ

"علامه اقبالؒ زما ذاتی دوست وو، دَ هغهٔ شمار دَ دُنیا په لویو شاعرانو کښې کیږی ـ هغه به تر قیامته پورے ژوندے وی ـ دَ هغوئ عظیمه شاعری دَ هندوستان دَ مسلمانانو دَ نواهشونو، مرضئ اَوُ جذباتو عکاسی کوی ـ دا شاعری به مونږ دپاره اَوُ آئنده راتلونکو نسلونو دپاره دَ لارے دَ مشال کار راکوی ـ"

نن هم دَ اقبالؒ پیغام دَ مونږ ټولو دپاره دَ یو دعوت اَوُ بلنے حیثیت لری ـ اقبالؒ دَ جرأت مندئ دَ ژوند دَ نصب العین دپاره د ژوند یوه داسے فلسفه وړاندے کړه چه مونږ ئے په اَمرونه ژوند کښے نن هم ځلولے شُو ـ ګومه لار چه علامه اقبالؒ مونږ ته په ګوته کړی ده ـ هغه نن هم دُنیا دَ بنهٔ والی په لوری بوتلے شئ ـ که چرے مونږ په دے لار روان شُو نو تازه کلی آبادولے شُو ـ